# محمّد گل خان مومند



مرتّب:

همیش خلیل

# مُحمّد گل خان

## مومند

مرتب

**همیش خلیل**

یُونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور

# دَ محمد گل خان مومند دَ ژوند څلور مختلف دورونه









# فهرست


(۱) پیش نامه : همېش خلیل ۴
(۲) دَ محمد گل خان مومند دَکشر وروړ عبد الکریم خان وینا ۷
(۳) دَخلیل اولسي ادبي جرګې دَصدر سید صابر شاه صابر خبرې ۱۰
(۴) محمد ګل خان مومند : پوهاند صدیق الله رښتین ۱۳
(۵) دَ محمد ګل خان مومند خط دَحاجي خانمیر هلالي په نوم ۲۲
(۶) اروا ښاد مومند بابا : حبیب الله رفیع ۳۱
(۷) دَ محمد ګل خان مومند دَژوند څو واقعات : همېش خلیل ۴۱
(۸) تاریخ ساز شخصیت : سناتور غلام نبي چکنوري ۵۱
(۹) دَ محمد ګل خان مومند دَشخصیت لنډ جاج : شاهسوار سنګروال نیازي ۵۵
(۱۰) دَ پښتنو پلار الحاج غلام فاروق چشتي ۶۹
(۱۱) دَ محمد ګل خان مومند دَ نیکه او پلار په حقله : همېش خلیل ۷۵
(۱۲) میرویس بابا ، احمد شاه بابا
او محمد ګل بابا : شمس الهدی شمس ۷۸
(۱۳) خلیل اولسي ادبي جرګه او ریښتو ادب : خاطر غزنوي ۸۶
(۱۴) محمد ګل خان مومند اے پریکټیکل مین ډاکټر شیر زمان طائزے ۹۷
(۱۵) دَادب دَشیریني مومن خان وو : همېش خلیل ۹۸
(۱۶) دَ ملت حکیم : قمر الزمان قمر نریوال ۱۰۱
(۱۷) دَ عقیدت ګلونه : غلام حیدر حیدر ۱۰۳
(۱۸) مسیحا دَخپلې ژبې : شهریار قتاش خېل ۱۰۵
(۱۹) دَ محمد ګل بابا قبر ته : سناتور غلام نبي چکنوري ۱۰۷
(۲۰) دَ پښتو پلاره الحاج محمد هاشم غم شریک ۱۰۸
(۲۱) دَ وزیر محمد ګل خان مومند دَسیمینار په اړوند پوهنیار عزیز الله حصاري ۱۱۱

# پیش نامه

محمّد ګل خان مومند حسن خېل چې په حیث دَ افغانستان دَ یو ادبي او سیاسي شخصیّت په کومه جذبه دَ خپل ملک او ملّت سره سره دَ خپلې ژبې او ادب کوم خدمت کړے دے، هغه به دَ دغه کتاب په څنو مقالو کښې تاسُو ولولئ - زهٔ نهٔ غواړم چې دَ هغو په تکرار ستاسو وخت واخلم، البته خپل قول کښې دَ خپل فعل په صداقت هغه دا حقیقت موږ ته په ګوته کوي، چې کهٔ پرته دَ سیاسي مصلحتونو په ایماندارۍ څوک دَ ملک، قوم، ژبې ادب او ثقافت دَ خدمت دپاره ملا وتړي، نو دَ برخه کولے شي - او خپلې همدغه ایماندارۍ او دیانتدارۍ په برکت موصوف چې په خصوصیت سره دَ خپل ملک، قوم، ژبې او ادب دَ پرمخ تلو په هڅه څهٔ کړیدي، حقیقت هم دا دے چې هغه

"دپرخهٔ" دي - او اوس دغه "دپرخهٔ" دَ رڼا دَ يوې داسې مُنارې شکل خپل کړے دے چې انتها ته ئې په کتلو دَ خلقو له سرونو پګړۍ لوېږي - او نهٔ صرف دَ رڼا دَ دغه منارې عظمت ډېر بلند دے، بلکې څومره چې بلند دے هم دومرهٔ خورسند هم دے او څرګند هم -

او دا ځکه چې دَ دغه عظيم الشانه، عالي شانه او ذي شانه مُنارې دَ رڼا پلوشې لکه دَ اسمان له مُنارې نه دَ نمر دَ شعلو دَ فيضونو، په خپل عمل دَ ځنو پاشيو په تکل هره ورځ داسې خورېږي چې زمونږ دَ ملّي او ادبي دُنيا په فردوس دَ سپرليو دَ رنګين حُسن او ښائست په تکميل کښې دَ يو داسې عمل، روش او ترکيب کردار لوبوي، چې خزان نهٔ پېژني -

دَ محمّد ګل خان مومند خدمتونه دَ قوم، ملک او ژبې دَ هستۍ، سلامتيا او ژوند يو داسې مثلث دے چې دَ ملّت دَ دغه حکيم دَ فکري سنګينۍ، عظمت او تمکنت ترې بربښي - او دا مثلث په هغه صورت مثلث پاتې کېدے شي چې مونږ دَ خپل دغه اَتل لار خپله کړو -

محض دَ يو ادبي تقريب په نمانځلو او هغهٔ په نتيجه کښې دا وړوکے شان کتاب دَ عقيدت په طور اګرکهٔ دَ خان بابا" دَ سياسي او ادبي کردار دَ شان مناسب نهٔ دے،

ځکه په خورا ډېر معذرت احتراماً هم په هغه مینه، خلوص او جذبه چې موصوف ورباندې د پښتو او پښتون خدمت کړے سلام وړاندې کوم -

**همیش خلیل**

۹ ر ستمبر ۱۹۹۵ء

*

## دَ محمّدگل خان مومند دَ کشر ورور

# عبدالکریم خان وینا

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

گرانو مشرانو او کشرانو ورونو! السّلامُ علیکم

دغه ادبي تقریب چې دَ مرحوم محمّدگل خان مومند سرَه په عقیدت نمانځلے شي، زهٔ دَ دغه تقریب دَ منتظمینو شکریه ادا کوم۔ دا څرګنده او جوته خبره ده، چې دَ مرحوم تول ژوند دَ افغانستان او پښتو ژبې او ادب دَ خدمت دپاره وقف وو محمّدگل خان مومند دَ مرګ تر خوني کهٔ هغه په سرکاري ملازمت کښې وو او کهٔ بیا دَ دغه ملازمت نه بهر وو، په خلاص زړهٔ او ډېره مینه او انهماک دَ ژبې او ادب خدمت کولو۔ او چې زما یاد دي ډېر ادیبان او شاعران به دوي تهٔ راتلهٔ۔ او ادبي مرکې او خبرې به ئې ورسره کولې، اوس اکثر مړهٔ دي۔ خدائے تعالیٰ دې ئې وبخښي۔ دغو ادیبانو کښې یو صدیق الله

خان رښتین دے، چې ژوندے دے، خدائے تعالیٰ دې ډېر عمر ورکړي - دوي هم دَ مرحوم دَ ادبي خدماتو نه ښهٔ واقف دي ، چې دَ هغوي خدمات دَ افغانستان دخاورې دَ استحکام، پرمختګ او پښتو ژبې دَ ترویج او ترقۍ دپاره وقف وو- مرحوم یو رښتونے مُسلمان او پښتون وو، ځکه دَ هغهٔ ټول خدمتونه دَ جامعې دپاره وو- هغهٔ خپلې ټولې ذاتي خوشحالۍ او آرام دَ جامعې په خوشحالۍ او آرام قربان کړې وې-

زهٔ چې نن دلته دَ لرې او برې پښتونخوا شاعران او ادیبان دَ مرحوم خدماتو ته دَ عقیدت او نېکو پېرزوېنو په پېش کولو یو ځائے وینم، نو زهٔ محسوسوم، چې په دغه اتحاد به دَ مرحوم روح ته کومه خوشحالي رسي ، دَ هغې بیان په الفاظو کښې زهٔ نهٔ شم کولے- ژوند آخر په مرګ ختم شي- خو نېک مرغه هغه خلق دي، چې دَ ملک او ملّت په ښه راشي-

زهٔ په دې خبره ډېر خوشحاله او مطمئن یم ، چې ژوندي ادیبان او شاعران دَ خپلو مشاهیرو یادګیرنې کوي- او خپل ماضي نهٔ هېروي دَ ژوندیو او بیدارو قومونو هغه حقیقت دے چې انکار ترې نهٔ شي کېدلے- زهٔ نورستاسو وخت نهٔ اخلم، خپلې خبرې لنډوم- او په آخر کښې دَ

خلیل اولسي ادبي جرګې پېښور او دَ دې دَ منتظمینو دَ محمدګل خان مومند مرحوم په یاد کښې دَ دغه تقریب په انعقاد او بیا دې ته زما دَ رابللو د پاره چې دوي کوم زیار کړے دے، زهٔ ئې یوځل بیا شکریه ادا کوم، او دُعا کوم چې الله تعالیٰ دې دَ دغه جرګې کارکوونکو ته توفیق ورکړي، چې په دغه ډول ادبي تقریباتو ادبي بېدارۍ او تحریک ته دَ دوام دا سلسله جاري اوساتي۔ آمین

kitaboona.blogspot.com
kitaboona.blogspot.com

# دَ خلیل اُولسي ادبي جرګې دَ صدر

## سیّد صابر شاه صابر

# خبرې

دَ پښتو ژبې او ادب دَ ترویج او ترقۍ په خاطر دَ خلیل اولسي ادبي جرګې پېښور په مقاصدو کښې یو دا مقصد هم دے، چې وخت په وخت دَ خپلو هغو ادبي اتلانو په یاد کښې چا چې بې لوثه خدمتونه کړي دي، ادبي سیمینارونه او تقریبونه وکړي - او دغه شان دَ هغو په ستائلو او یادولو هغو ته خپل دَ خلوص نه ډک عقیدتونه وړاندې کړي - هم دَ دغه مقصد ترسره کولو او تر لاسه کولو دپاره جرګې په وړومبي ځل دَ لوي احمد شاه بابا په یاد کښې دَ کال سنه ۱۹۹۳ء دَ اګست دَ میاشتې په دیرشمه ورځ دَ پېښور پوهنتون. په ایریا سټډي سنټر کښې یو عظیم الشانه ادبي سیمینار وکړو، چې پکښې دَ لوي او برې پښتونخوا ادیبانو

او شاعرانو دَ مقالو او نظمونو په شکل لوی بابا ته خپل عقیدتونه وړاندې کړهٔ -

محمّد ګل خان مومند دَ پښتو ادب دَ نوُر او نمر هغه غر دے چې دَ بده مرغه دَ مرګ نه پس هم دَ خپلو دَ سرد مهرۍ په واورو کښې تراوسه پټ وو- اګر که پښتانهٔ مُرده پرست دي- ولې دَ موصوف په حقله دَ مُرده پرستۍ دغه روایت ته هم ترېږونه چا دَ عمل جامه ورپه غاړه نهٔ کړه-

دَ احمد شاه بابا دَ ذکرشوي سیمینار نه پس څهٔ وخت چې اولسي ادبي جرګې دَ محمّد ګل خان مومند په یاد او درناوي کښې دَ یو عظیم الشانه ادبي تقریب فېصله وکړه نو زهٔ په دېر افسوس او تأسف سره وایم چې دَ بره پښتونخوا ځنو ادیبانو او شاعرانو یوزې وجوهاتو او محض دَ افغانستان دَ سیاسي حالاتو په بِنا دَ خپلو مصلحتونو له مخه زمونږ دغه اقدام سره ئې موافقت ونکړو- خو هرکله چې جرګې خپله دغه فېصله کړې وه، او خان بابا ته دَ عقیدت دَ ګلونو دَ امېل دپاره دَ پښتو ادب دَ ګلشنونو دَ مالیارو انتخاب شوے وو حُکه نو جرګه په خپل عزم لکه دَ غر هسې بسنګینه او درنه ولاړه وه- او هم دَ جرګې دَ دغه عزم او کلکې ارادې برکت وو چې نن دا دے دَ تقریب په دوران هال کښې دَ مدعوئینو دَ نهٔ ځائېدلو باوجود حاضرین په پوره توجه او انهماک په

مرحوم دَ ادیبانو او شاعرانو تقریرونو، مقالو او نظمونو اوریدلو ته غوږ غوږ دي - او دَ څهرو نه ئې دَ خاموشۍ په ژبه دَ مرحوم سره دَ مینې، محبت او عقیدت دَ انداز اندازه لګول څهٔ ګرانه خبره نهٔ ده -

انشاء الله کهٔ ستاسو مرسته دَ خلیل اولسي ادبي جرګې سره جاري وي، نو مونږ عنقریب دَ پټې خزانې دَ مؤلف محمد هوتک په یاد کښې هم دَ یو ادبي سیمینار کولو تابیا کړېده - او بیا هم دغه شان دَ پښتو ادب دَ څو نورو اهمو اتلانو په یاد کښې دَ سیمینارونو او تقریباتو نمانځلو دپاره خپلو ادبي هلوځلو ته دَ دوام ورکولو ارادې لرو - دَ دغو هلو ځلو نه زمونږ مقصد دَ خپلې ژبې او ادب خدمت دے - ژبه دَ قومونو په غورځو پرځو کښې لوې لاس لري - پښتون په پښتو پښتون دے. ځکه نو کهٔ پښتون پښتون پاتې کېدل غواړي، نو پکار ده چې پښتو ته مخه کړي - خپل ادبي مشاهیر راژوندي کړي دَ هغو دَ خدماتو منته وکړي - او نوے کهول دَ نوي دور دَ نوي ژوند دَ تقاضو سره اشنا کړي -

زمونږ دَ توقع خلاف په دومره کمه شمېر دَ خان بابا سره دَ مینې، محبت او عقیدت په دولت دَ درنو حاضرینو دغه ادبي اجتماع دَ پښتو دَ زړونو په تخت دَ مرحوم دَ بادشاهت حقیقت په ګوته کړو او هم دغه زمونږ مقصد وو -

پوهاند صدیق الله رشتین

# محمد گل خان مومند

محمد گل مومند د محمد خورشید خان ځوی د مؤمن خان نمسے د عبدالکریم خان کړوسے، په خټه دوېزے مومند، په دوېزو کښې حسن خېل وهٔ. دے په ۱۲۶۳ هق کال د کابل د اندرابيو په کوڅه کښې زېږېدلے دے. لومړنۍ زدکړه ئې په خصوصي ډول وکړه او بيا په ۱۳۲۷ کښې د حربي ښوونځي په دوهم ټولګي کښې شامل شو. په پنځه کاله کښې ئې خپل عسکري تعليم سرته ورساوهٔ او پس له هغه د اردليانو په غونډ کښې د قوماندان په رتبه وټاکل شو. دغه وخت ئې هم شاهي ټولګي ته درس ورکاوهٔ او هم ئې د حربي ښوونځي د سرمعلمی وظيفه چلوله. د دغه خدمت په نتيجه کښې د سپه سالار صالح محمد خان د ياور په صفت وټاکل شو او بيا د شاهي ګارډ قوماندان شو. يو څهٔ وخت ئې په ترکيه د افغاني سفارت

د نظامي آتشه په حيث خپله وظيفه اجراء کړې ده. محمد گل مومند په ۱۳۰۰ ش کښې د مجموعهٔ عسکري د مجلې مديريت هم کړے دے، چې د حرب د وزارت له خوا خپريدله. دے په ۱۳۰۳ ش کال کښې د پکتيا د عسکري قوماندان او اعلی حاکم په توګه وټاکل شو. په ۱۳۰۶ ش کښې د مزار شريف د ملکي پلټنې د رئيس په صفت او بيا د ننګرهار د عسکري قوماندان په صفت مقرر شو. د سقوي انقلاب په وخت کښې يې لومړے له سردار محمد هاشم خان سره او بيا يې په پکتيا کښې د سردار محمد نادر شاه سره په کلکه ملا وتړله او په زړه پورې خدمتونه يې سرته ورسول.

د هيواد د نجات نه وروسته د سردار محمد هاشم خان په کابينه کښې د داخله وزير په توګه وټاکل شو. خو ورسته يې اول د ننګرهار په ولايت کښې او بيا د پروان په ولايت کښې د تنظيم رئيس وظيفه هم په ښهٔ شان چلوله. په دغو ولايتونو کښې يې چې پوره قلاري راوستله. نو بيا په ۱۳۱۱ ش کال کښې د کندهار او فراه د ولايتونو د تنظيم د پاره ولېږل شو. په ۱۳۱۳ ش کښې د کتغن، بدخشان، مزار شريف او ميمنې د ولايتونو د تنظيم رئيس په حيث وټاکل شو. په هر ځائے کښې يې خپله اسلامي او پښتني وظيفه په پوره ايمانداره سرته ورسوله. او د خپلو ښو خدمتونو په اثر يې

دَ لمراعلیٰ لوړنشان واخست. دے په ۱۳۱۹ش کال کښې دَ دولت دَ وزیر په توګه مقرر شو او بیں له دغه وخت نه ئې نور عمر په خپل کالهٔ کښې دَ پښتو ژبې په علمي او ادبي خدمت کښې تیر کړ.

اروانښاد مومند تر ۱۳۲۷ش پورې په سمنګان کښې وُسیدهٔ. بیا په دغه کال دَ غازي شا محمود خان دَ صدارت په وخت کښې کابل ته راغلے او پاتې عمر ئې په کابل، ننګرهار کښې په خپله خوښه تیراوهٔ. څو ژمي ئې دَ کونړ په نرنګ کښې او نور ژمي ئې په خپل اصلي کلي (ګولائي) کښې تیرکړل. خو په اوړي کښې به همیشه کابل ته راتهٔ. او په دې ډول ئې دَ خپل کوچاني ژوند سلسله هم ټینګه ساتله.

محمّد ګل مومند په ۱۳۳۴ش کال کښې دَ لوې جرګې دَ رئیس دَ نائب په توګه غوره کړے شو او خپله پښتني وظیفه ئې په ښهٔ ډول سرته وُرسوله. دغه ننګیالي، توریالي، خبرلوځ اوجرګه مار پښتون آخر دَ ۱۳۴۳ کال دَ زمري دَ میاشتې په ۲۷ نېټه دَ سه شنبې په ورځ دَ سهار په اتو بجو دَ ۸۰ کالو په عمر دَ بریکوټ په یو کرائي کور کښې وفات شول. او په پوره درناوي او عزت دَ کابل دَ شهدائې صالحینو په هدیره کښې خاورو ته وسپارل شو. دَ دهٔ په جنازه کښې دَ کابل لوې لوې خلک، ملکي او عسکري مامورین او نور دېر علاقه مندان شامل شوي وو.

کله چې خاورو ته وسپارل شو - نو لومړی مولانا محمد شاه ارشاد دَ دهٔ لنډه ژوند پېښنه بیان کړه - دَ دهٔ لوړ شخصیت او عزره خدمتونه ئې وستائیل - ورپسې ما یو څو لنډو جملو کښې دَ دهٔ عسکري ، سیاسي ، علمي او ادبي خدمتونه یاد کړل - او دے مې دَ دې عصر خوشحال خټک وباله - ولې چې دے هم دَ هغهٔ په شان دَ تورې او قلم خاوند ، دَ سیاست دَ میدان پهلوان او یو غښتلے عسکر او جنرال وهٔ - آخر کښې مې دَ اشرف خان هجري دا بیت ولوست : ــه

چې چراغ دَ هنر زمکې پوشیده کړ
کهٔ ئې زهٔ په وښکو ډوبه کړم سزا ده

دَ ارواښاد مومند فاتحه دَ پوهنې دَ وزارت له خوا دَ اسد په ۲۸ ، ۲۹ ، دَ شېرپور په لوې جماعت کښې واخستله شوه - دَ دهٔ دُعا ته دَ افغانستان پاچا محمّد ظاهر شاه او نورډېر خلک راغلي وو -

محمد ګل مومند نارینه اولاد نهٔ درلود - یواځې یوه لور ورنه پاتې ده - چې په خپل ژوند ئې دَ لالپورې صالح محمّد ترکزي ته ورکړې وه -

## اخلاق او شخصیّت :

دا هر څوک مني چې ارواښاد محمد ګل خان مومند دَ یو لوړ شخصیت ، سپېڅلي کرېکټر او کلک عزم خاوند وهٔ - په مذهبي

اصولو ټینګ ولاړ او په پښتو، پښتونواله ښځې مېئن وه - د پښتون له تاریخ او عظمت سره ئې بې اندازې مینه لرله - بې پښتو او بې همته پښتانه ئې نه خوښېدل - د ښو خویونو او پښتنې اخلاقو په جامه ښائسته وه - د ده مجلس او مرکه د پښتو پښتونولۍ یوه لویه مدرسه وه - ده به تل پښتنو ځوانانو ته د پښتنې خویونو درس ورکاوه - بې پښتوګي ئې بده ګڼله - د ده په وجود کښې عسکریت، سیاست، علم و ادب ټول یو ځائے شوي وو - او په دغو ټولو خواؤ کښې ئې علمي برخه اخستې وه او په دغه سبب په هېواد کښې د یو ملّي شخصیت په صفت پېژندل شوے دے -

ښاغلے محمّد ګل مومند د یوې نه بدلېدونکې عقیدې خاوند وو - په سختۍ او نرمۍ، په خزان او بهار یعنې هر وخت او هر حال کښې په خپل هوډ او ننګ، پښتو او پښتونواله لکه د غر ټینګ ولاړ وو - ده لکه د تېرو ننګیالو پښتنو په شان د پېسو په ځائے قصې ګټلې - او په دولت او پېسو پسې ئې سر نه ځوړاوه دا وجه وه چې په کابل کښې تل په کرائې کور کښې وسېده - او تر مرګه په کابل کښې د کوم کور خاوند نه شو - تر دې چې ساه ئې هم د بل په کور کښې ووَتله - او همدا خبره د ده لوي افتخار او امتیاز ګڼل کېدے شي -

ښاغلے مومند سربېره په نورو صفتونو یو زبردست خطیب

او وياند وو. دَ دهٔ په وينا ؤ او خطابونو کښې پوره فصاحت، زيات جرأت او قوي منطق موجود وو. دهٔ په هر وخت او هره موقع کښې له اخلاقي زړورتيا نه کار اخيست او هيڅکله يې له حقې وينا څخه مخ نهٔ دے اړولے. دَ دغه لوړ شخصيت او پښتني کريکټر له کبله يې دَ بابا لقب موندلے وو. او هرچا ورته دَ بابا توب حيثيت ورکړے وو.

## علمي او ادبي خدمت :

اروا ښاد محمدگل مومند سربيره په سياسي او عسکري خدمتونو په علمي او ادبي برخه کښې هم پاخهٔ کامونه اخستي دي او دَ پښتو ژبې دَ ژوندانهٔ دپاره يې عجيب کارونه سرته رسولي دي. کوم وخت چې په کندهار کښې تنظيمه رئيس وهٔ نو هلته يې دَ اعلحضرت محمّد نادرشاه په اجازه په ۱۳۱۱ش کال کښې دَ پښتو انجمن لومړے تيهٔ کښښودہ. چې بيا هم دغه انجمن کابل ته راوغوښتل شو. او دَ کابل له ادبي انجمن سره يو ځائے شو او وروسته ورنه په ۱۳۱۶ ش کښې "پښتو ټولنه" جوړه شوه. دهٔ په کندهار کښې رسمي دوترونه په پښتو اړولي وو. چې بيا وروسته دغه لاړ چا ټينګه نکړے شوه. دهٔ په کندهار کښې د ويښ زلميان ورونزل او دَ پښتو دَ خدمت ميدان ته يې راوويستل. دَ کندهار "طلوع افغان" هم دَ دهٔ په امر په پښتو اوښتے دے.

دَ دهٔ نیت او ارادې په ډېرو مختونو کښې دَ پښتو لهٔ ژوندسرهٔ زیاته مرسته کړې ده۔ او تل ئې دَ پښتو دَ لوړتیا آرزو په رسمي او شخصي ډول پاللې ده۔ دَ دهٔ لومړنے علمي اثر له "پښتو سیند" څخه شروع کېږي۔ دَ دې قاموس دَ لیکلو پاڼې ئې له ډېر پخوا څخه دَ لغاتو په راغونډولو لاس پورې کړے وهٔ۔ خو دَ کتاب په شکل په ۱۳۱۶ش کال دَ کابل په عمومي چاپخانه کښې چاپ شو۔ دغه قاموس دوه ټوکه دے۔ او ټول مخونه ئې (۷۶۵) ته رسېږي۔ دا قاموس په ډېر زیار په پښتو او فارسي لیکل شوے او په افغانستان کښې لومړے چاپي قاموس ګڼل کېږي۔

دَ پښتو ژبې دَ علمي بنسټ ټینګولو دپاره دَ دهٔ بل لوې علمي خدمت "دَ پښتو لیار" ده۔ "دَ پښتو لیار" دَ پښتو ژبې یو لوې ګرامر دے چې په پښتو ژبه لیکل شوے او په ۱۳۱۷ ش کال په لاهور کښې دَ عبدالعظیم صافي په اهتمام چاپ شوے دے۔ "دَ پښتو ژبې لیار" یوه ډېره خوږه په زړهٔ پورې سریزه هم لري۔ چې دَ هر پښتون زړهٔ ورباندئ خوښېږي۔ په دې ګرامر کښې داسې ډېرې نوې څېړنې راغلي دي چې په پخوانو ګرامرونو کښې نشته۔ په آخر کښې دَ مصدرونو یو کامل فهرست هم لري۔ ټول مخونه ئې (۴۰۰) ته رسېږي۔

دَ ښاغلي مومند بل خوندور اثر "لنډکې پښتو" ده چې په

۱۳۲۷ش کال دَ پښتو ټولنې له خوا چاپ شوے دے. په دې اثر کښې دَ پښتو او پښتونوالۍ ښېګڼې په ډېر ښائسته او سپېڅلي رنګ کښې بيان شوي دي- چې دَ پښتو وظيفات ورته وئيلے شو-

دهٔ ځنې نور کتابونه هم لیکلي دي، خو په قلمي شکل کښې پاتې دي او چاپ شوي نهٔ دي، چې نومونه ئې دا دي:

(۱) پښتنې روزنه

(۲) پښتو پښتونواله

(۳) دَ پښتو لويه نحوه (معاني او بيان)

(۴) دَ پخلي کتاب: چې (۴۰۰) مخونه لري، او داسې نور-

## دَ پښتو مينه:

ښاغلي مومند له پښتو او پښتنو له سره ډېره مينه درلوده دَ دهٔ په مجلس او مرکه کښې به بې له پښتو نه بله خبره نهٔ وه دَ هر ځائے او هرې سوئې پښتون چې به دَ دهٔ ځائے ته ورغے نو دهٔ به ورسره خامخا دَ پښتو په باب خبرې کولې. دَ سوچه پښتو کلک ملګرے وو. دَ دهٔ په وړاندې به چې چا په پښتو کښې دَ بلې ژبې ټکے راووړ، نو دهٔ به سمدلاسه ورباندې غږ وکړ چې پوه نهٔ شوم څهٔ دې ووئيل؟ که چا به خپله غلطي سمه کړه، نو په درنه لهجه به ئې ووئيل چې ها! خدائے دې وُبخښنه! اوس پوه شوم. دَ پښتو لغاتو څېړنه او پوښتنه

دَ دهٔ لویه مشغولا وه - دهٔ به همېشه له کلي والو پښتنو څخه دَ ناآشنا لغاتو پوښتنې کولې - قلم او کاغذ به وروسره تل په څوا کښې پراته وو - چې نوے لغت به ئې واورېدهٔ هغه به ئې ولیکهٔ - ګډوله او کږکېچو پښتو ئې نهٔ خوښېده - چاچې به له پښتو سره بې پروائي کوله، هغهٔ ته به ئې په ښهٔ نظر نهٔ کتل - دهٔ دَ نوېو لغاتو په جوړولو کښې لوی لاس درلود - او ډېر نوي لغات ئې جوړ کړي دي، چې اوس ئې ښځې رواج موندلے دے او عام شوي دي، لکه: لګموخج = دَ آواز خار، دَ ژبې لیار = قانون، وتوځے = مخرج، ننوتوځے = مدخل، ایرنۍ = خاکستردانې او نور - خو څنو ئې دَ سختۍ له کبله رواج نهٔ دے موندلے، لکه:

اڅل = ګلاس، هڅوب = کالچر - دهٔ دَ پښتو په لیک دود کښې هم څنې تغیرونه راوستي دي لکه: (ڤ = سړی)، خو دې لیک دود هم رواج ونهٔ موند، یوازې مجهوله او لګې والا (ې، ۍ) په پښتو لیک دود کښې ومنل شوې -

زهٔ دَ دهٔ له مړینې نه درې ورځې دَ مخه ورغلے وم، یو څو نور پښتانهٔ هم وو - په دغه ورځ سره دَ دې هم چې ډېر غوندې زهیر او رنځور ښکارېدهٔ، خو دَ لغاتو په څېړنه لګیا وهٔ. قلم ئې راخستے وهٔ او نوي لغات ئې لیکل - دغه وهٔ دَ محمد ګل خان مومند دَ پښتو سره مینه چې ترمرګه پورې ورسره ملګرې وه - ۞

# دَ محمدګل خان مومند خط

## دَ حاجي خانمیر هلالي په نوم

دَ محمدګل خان مومند دا خط دَ اووهٔ ورځني اخبار "خیبر" پېښود دَ مدیر مولانا خانمیر هلالي په نوم دَ کال ۱۹۳۶ ء دَ اکتوبر په یوه ګڼه کښې شائع شوے دے چې وروستو بیا دَ کابل مجله کښې هم شائع شو۔

(مرتب)

محترم ورور زما، هلالي صاحب!

تاسو ته معلومه ده چې ملي ژبه نن ورځ په دنیا کښې ډېر اهمیت لري۔ او حقیقتاً ډېر اهمیت ښائي۔ نو هر یو ویښ حساس ملت له ښائي، چې په هره ګټه، هر حساب او هرې ملاحظې سره خپلې ملي ژبې ته ډېر اهمیت ورکړي، او ورکوي به ئې۔

مونږ پښتانهٔ یو ځان ته ملت یو۔ ځانته ژبه او خصائص

لرو۔ مورنۍ ملي ژبه مو پښتو ده۔ موږ لږ نهٔ یو۔ لږ دېږ شل میلونو ته رسېږو۔ موږ تاریخي نوم او تخنیې او شئونات او اوس هم ځان ته مستقل حکومت لرو۔

نو غواړم چې موږ هم خپل ملت ته پام وکړو او مورنۍ ژبه خپله چې په تلو ده، ټینګه کړو۔ بینهٔ ئې وساتو، وئې پالو، وئې روزو۔ اخلاق ادب او رسومات چې سبب دَ امتیاز زموږ څخه دي، دَ خلل څخه وژغورو۔ او ورک کړي مزیات خپل ولټوو، موندهٔ ئې کړو۔ خپل مزیات او خوي خاصیت بدل نهٔ کړو۔ ځکه هر سړے لکه چې په خپل رنګ په خپل اخلاق او خوي خاصیت دَ بل څخه بیلېږي۔

همدغسې هر ملت په خپل اخلاق، اداب، عادات، رسومات او خوي خاصیت دَ بل ملت څخه بیلېږي۔

مګر افسوس چې بې له ډېرو معدودو او محدودو سړیو په عمومي ډول سره پښتنو وَ دې خوا ته پام نهٔ دے کړے۔ دا درست ځیزونه اخلاق، اداب، رسومات، خوي خصلت دَ پښتنو په پښتو کښې داخل او شامل دي۔

دا په اعتماد سره لیکلے شم چې پښتو په تمامو اوصافو او انسانیه او اسلامیه مزیاتو شامله ده۔

پښتون په کامل انسان او مکمل مُسلمان باندې دلالت کاوهٔ۔ داسې لغات په قاموس دَ هیڅ یو قوم کښې نشته لکه

چې پښتون ئې لري۔

دَ تېر شوي پښتون دَ قومي ژوند نه دا خبره جوتېږي او په شهادت دَ تاريخ سره ثابتېږي۔ آثار ئې لږ دي۔ اوس هم موندل کېږي۔ مګر افسوس او زرځله افسوس چې زموږ داسې ملت خپل موندلي اصيل زيږه پښتانهٔ مرهٔ شول۔ او اصلي پښتو لاړه۔ پاتې شونکي ئې هم که پام يارې ونهٔ شي ځي۔ کور به مو تالا شي۔ پوُ پنا به شو۔ دَ پښتنو دَ امسيانو سلامت، سعادت، عافيت، عزت، راحت، ترقي او لوړوالے، خلاصه ژوند ئې او په آخر کښې په نېکنامۍ سره مرګ درست په پښتنو پورې موقوف دے۔

نو غواړم چې پښتانهٔ پښتو ټينګه کړي۔ دا ناپامي هم دَ بې علمۍ څخه ده۔ نو ښائي چې پښتانهٔ علم ته مخه وکړي علم بې له مورنۍ ژبې نه په بله ژبه نهٔ کېږي نو لومړے کار دا دے، چې موږ بايد خپله مورنۍ ژبه ژوندۍ کړو۔ درسي کتابونه په پښتو کړو۔ مکتبونه پرانيزو۔ هلکان په مکتبونو کښې داخل کړو۔ علوم او فنون درست په پښتو واړوو۔ دَ بل په ژبه علم نهٔ زده کېږي او که زده کړے شي هم ګټه ئې نشته۔ دَ دې بحث نه تېرېږم۔

په دې کښې څوک برخه لري۔ هر کسان به وي چې برخه به لري۔ مګر اديبان دَ ټولو نه مخکښې او زياته برخه لري۔

وئیلے شي چې مقدرات دَ یو ملت د ادیبانو دَ قلم په څوکې پورې تړلي دي - ادیبان دَ مشهورو قائدانو، قهرمانانو او مشاغلو کسانو نه هم لویه او جګه مرتبه لري - ادیبان مُربیان دَ ملّت دي - قائدان او قهرمانان دوي مونده کوي - افسوس چې پخوا تر دې له خوشحال خان (که یې ځوک وي هم نه یې پېژنم) نور په زمکه داسې ادیب نه دے موندل شوے چې پښتو ته خدمت وکړي -

ژبه دَ خلل څخه ادیبان ساتي او ادیبان لغات قېدوي - نوي لغات دَ ژبې دَ خصوصیاتو سره موافق ایجادوي - اصطلاحات مونده کوي، ژبې له ارتوالے ورکوي - صرفیه او نحویه قواعد یې ضبطوي - اخلاق، اداب او رسومات لنده دا چې درست خصوصیات دَ ژبې او خوي خصلت دَ ملت ساتي، چې ملّت او او امتیاز ته دَ ملت خلل ونه رسېږي -

زمونږ بې حسه ادیبان یا ناپامه ادیبان یا بې علمه ادیبان هر څه چې دي په عکس سره، ملّي لغات یې هیسته وغورځول را څخه هېر یې کړل او ورک یې کړل - صرفي او نحوي قواعد یې قېد نکړل - ژبه یې ونه ساتله - بې ځایه او بې لزومه پردي لغات او اصطلاحات یې په پښتو کښې رواج کړل - د پردیو ملتونو اخلاق، اداب، رسومات، او نور څیزونه یې په مونږ جاري کړل - لنده یې دا چې پښتو ته یې خیانت او پردیو ژبو او

ملتونو ته ئې خدمت وکړ- یو نیم په کښه کښې نهٔ راځي-
النّادر کالمعدوم، والمعدوم لیس بشیٔ -

اوس مناسب دي چې دَ خپلو ادیبانو پام وَدې خواته وګرځو چې دیانت، اخلاق، آداب، رسومات، دول ګوزارې او نورې ښاغلي خوي خصلت دَ پښتو او پښتنو ایجابات ضروریات دَ زمانې احوالات او نور ځیزونه تر نظر لاندې ونیسي- او ملا وتړي- دَ پښتو ژبې او پښتون قوم دَپاره خدمت وکړي دَ قافیې دَ آسانتیا دپاره پردۍ لغات په ژبه کښې داخل نکړي- دَ نورو ژبو په دول سره قافیې په اشعاروکښې څهٔ ضرور ؟

زما په خیال سره موږ باید په خپلو چارو کښې غور وکړو- اهم او مهم او معمولي چارې سره بیلې کړو- ناضروري چارې هیسته کېږدو، اهمې چارې لومړۍ کړو- وروسته معمولې چارې وکړو- دَ ټولو نه وروسته کیفي او ذوقي شیان راځي-

زما په خیال سره زموږ ادیبان، زموږ عالمان او زموږ پوهان دا چارې کهٔ په دې ترتیب سره وکړي ښهٔ به وي-
یعنې :-

(۱) سمدلاسه درسي کتابونه دَ مدارسو او مکاتبو دپاره تالیف. او ترجمه کړي-

(۲) دپاره دَ مکاتب او مدارسو، کتابونه دَ قرأت دَ پښتو په

ترتیب سره دَ پاره دَ هر جماعت ساز کړي - په دې کتابونو کښې ذهنیت دَ هلکانو او استعداد دَ دوي باید ترنظر لاندې ونیول شي - مقصد هېر نهٔ شي - لومړے کتابونه باید ساده او آسان وي - دَ هلکانو دَ پوهې او عقل نه بهر نهٔ وي - ورو ورو دَ دې خبرې او دَ بحث میدان ارت او پراخه شي او مضمون جګ شي - تردې پورې چې ادبیاتو او عالي مضامینو ته خبره ورسیږي -

په دې کتابونو کښې دیانت، ملیّت، اخلاق، لنډه دا چې پښتو ښهٔ ترنظر لاندې ونیوله شي، ترڅو چې هلک ئې له لوستو څخه، بې له مضمون او عبارت څخه هم دا شیان زده کړي - دَ هلک پام دین، اخلاق، اداب، خپل ملّي خصائلو او ملي خصائصو ته وشي - دَ ماشومتیا نه دې دا شیان په زړهٔ او دماغ کښې ځائے ونیسي - او دَ پښتانهٔ بچي پښتانهٔ شي -

(۳) مختصر او مفصل صرف او نحو دَ پښتو دې په ښهٔ شان سره تالیف شي -

(۴) دَ اصیل پخواني پښتانهٔ، اخلاق، اداب، دول او طرز دَ معاشرت، رسومات، عنعنات، ټوله خصائل او خصائص ممتاز دزیره پښتانهٔ، پوه قابل او واقف محررینو دَ خوا په مناسب دول سره غونډ کړے شي او په مناسب تحریر سره ولیکل شي -

نو په وخت دَ لیکلو کښې باید دا شیان ترنظر لاندې

ونیول شي - دا کتاب په پښتو اخلاق ، پښتو اداب ، پښتو طرز دَ
معاشرت دَ خلل ځخه ساتي - دا کتاب چې هېر شوي او متروک
شوي ، ښه او حمیده اخلاق ، پښتو ملي آداب او دَ پښتو ډول
دَ معاشرت پښتانهٔ ته به بیرته وروپه زړهٔ کړي - دَ پښتانهٔ
ځلمیان په بېرته پښتانهٔ شي ، خپل امتیاز به وپېژني او له لاسه
به ئې ونهٔ باسي - په خپل درست خصایص او خصائلو باندې
به پوه شي - موجودیت خپل به لیا وښیي -

ترقي او لوړوالے به وکړي ، دَ ذلت ځخه به ووځي ، عزت
به موندهٔ کړي ، دَ نړۍ دَ مترقي او متمدن ملتو په قطار
کښې به داخل شي او ځان ته به لوړ مقام موندهٔ کړي کهٔ
خدائے کول -

(۵) وروسته تردې دې مختصر او مفصل ملّي تاریخونه سازه
شي - دَ مخوانیو پښتنو حالات او دَ ښاغلي پښتانهٔ احوال به
ښهٔ ډول سره بیان شي - دَ مؤلفینو او مؤرخینو په اغراضو
باندې غور وشي - دَ هر مؤلف یا مؤرخ کتاب یا کوم مضمون
ته چې په ترڅ (ضمن) کښې ئې خپل یا دَ بل سیاسي یا ملّي
او نور اغراض ئې داخل کړي وي ، اعتبار ونکړل شي ، لکه
تاریخ دَ خورشید جهان "دا کتاب ابراهیم خان گنداپوري لیکلے
دے ، هلالي ) - (شیر محمد خان گنده پور تالیف کړے دے - همیش خلیل)

(۶) تردې وروسته دَ زماني دَ فنون کتابونه په پښتو

kitaboona.blogspot.com
kitaboona.blogspot.com

تالیف او ترجمه شي - دَ نورو علومو کتابونه دې هم په پښتو
واړول شي - اړې او احتیاج هم ترنظرلاندې ونیول شي -
فرهنګونه او دَ لغت کتابونه دې هم جوړ شي - مخصوصًا یو
مکمل قاموس دې ولیکل شي (وزیر صاحب ته دې مبارک وي
چې دا کار هغوي په خپله ذمه کړو او دَ پښتو لغات ئې چاپ
کړو - هلالي)

په عین حال کښې اخباراتو او مجلاتو ته دې هم اهمیت
ورکړې شي - اخبارات او مجلات دې هم داسې وي چې هرڅوک
په نسبت دَ خپل حال او احوال او کار او روزګار او علمي او فني
استعداد او لیاقت سره دَ اخباراتو نه استفاده وکړے شي -

داسې ونه شي چې عوام ترنظر لاندې ونیول شي او خواص
او عالمان هېر کړے شي، یا خواص او عالمان ترنظر لاندې
ونیول شي او عوام هېر کړے شي - بلکې هرچا ته او دَ هرې
چارې خاوند ته، هرې طبقې ته موافق دَ هغهٔ دَ حال او دَ
چارې سره مطابق، دَ هغهٔ دَ علمي استعداد سره، دَ هرچا دَ
ذوقه سره موافقه مطالعه موندهٔ شي - ترڅو چې معلومات
او وقوف دَ هر سړي ډېر شي - بې ځایه نغمه سرائي او
ساده ګري پرېښودله شي - دَ پښتو دَ ترویج او تعمیم دپاره په
هر دول چې لازم او ممکن وي په یو منظم طور پښتو
وخوځوله شي - پښتنانهٔ ویښ کړے شي - په پښتو کښې احساس

موندهٔ کړے شي - کهٔ کارونه او چارې په فکر سره وشي - او یو ترتیب ولري - ادیبان، عالمان او پوهان کوشش وکړي - دَ پښتو سره پښتو وکړي - دَ لې کوشش څخه به ډېره نتیجه واخستله شي - پښتو به ژر ژر ژوندۍ شي - او لوړوالي ته به مخ کړي - او البته پښتو چې ژوندۍ شوه، پښتانهٔ به هم ژوندي شي -

مقصد دادے چې دَ پښتو دَ ژوندۍ کولو دَپاره په پښتون کښې دَ عام علم دپاره دا ترتیب به ښهٔ وي - اما ممکنه ده چې تر دې ښهٔ او لنډه لاره بله هم وي نو ځکه ستاسو نه مشوره غواړم چې خپل خیالات کهٔ ممکن وي ولیکئ -

تاسو دَدې امورو سره ډېره علاقه لرئ - ممکن دي چې په دې خصوص کښې نظریات ولرئ - او ممکنه ده چې دَ نورو فضلاؤ او پوهانو سره به مو تل مبادله دَ افکارو کړې وي - او مناسبه لاره به موسنجولې وي -

ستاسو افکارو او نظریاتو نه به موږ استفاده وکړو - کهٔ څېرې دا نظریه زما صحیحه وي - نو دَ وروستو پښتنو څخه چې په دې لاره کښې لږ یا ډېر حتّی الوسع خدمت کولے شي باید تمناء وشي چې خپله وسه ونهٔ سپموي - تر هرې درجې چې دَ هرچا دَ لاسه کېږي باید خدمت وکړي، تر څو چې په مشترک مساعي دَ ټولو مقصد تر یوې درجې پورې تمام شي ؛

حبیب الله رفیع

*

# ارواښاد مومند بابا

## دَ پښتو دَ یوه نوي لیکدود جوړوونکے

*

ارواښاد محمد گل مومند بابا یو کثیر ارخیز (کثیرالابعاد) شخصیت وو، چې ژوند ئې بېلا بېلې نظامي، اداري، سیاسي ادبي او علمي خواوې درلودې. چې دَ علم او ادب ارخ ئې هم بیا په بېلا بېلو څانگو وېشل شوے وو. دے شاعر وو، ټولنپوه وو او دَ پښتو ژبې په ویي پوهنه (لغت) او ژب دود (گرامر) کښې ماهر وو. او له دې سره ئې دَ پښتو له پاره یو نوے لیکدود هم جوړ کړے وو. چې زهٔ ئې دلته په همدې ارخ غږېږم.

ممکنېږي له دې چې دَ ارواښاد مومند بابا په جوړ شوي پښتو لیکدود وغږېږو، دَ پښتو لیکدود په تاریخي مکتبونو هم

لنډه رڼا واچوو:-

(۱) تر اسلام وړاندې دوره چې پرېږدو په اسلامي دوره کښې یو عام روایت دا دے، چې د سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې د ده وزیر (احمد بن) حسن میوندي (د ۴۲۴ھ ق/۱۰۳۳ع مړ) قاضي سیف الله وګماره چې د پښتو ژبې الفبې جوړه کړي نوموړي قاضي د عربي، پارسي، پنجابي او سندهي ژبو د الفباو په مرسته د پښتو ژبې د غږونو له پاره توري وټاکل او په دې توګه لومړے وار د پښتو الفبې لاس ته راغله- خو الله بخش یوسفي بیا دا کار د پښتو په لیکدود کښې سمون بولي نه ایجاد چې دا روایت سم بریښي ځکه چې تر دې وړاندې د امیر کروړ، ابو محمد هاشم سرواني او نورو لیکونه شوي وو- چې د پټې خزانې مؤلف ته رارسېدلي دي له موږ سره د میوندي د وخت د لیکدود هیڅ نمونه نشته- او دا روایت تش د روایت په توګه راپاتې دے-

(۲) د پښتو لیکدود لومړنے مکتب د بایزید روښان له خوا د جوړ شوي لیکدود مکتب دے چې د پښتو لومړنۍ تر لاسه شوې خطي نسخې خیرالبیان موږ ته رارسولے دے۔ د خیرالبیان دا نسخه په ۱۰۶۱ھ ق/۱۶۴۳ء کال د بایزید روښان مرید فقیر د بهارتوي خطاطي کړې او په لومړیو څوارلسو مخونو کښې يې د روښاني لیکدود رساله راغلې ده- بایزید د دې

لیکدود وضع الهامي بولي. خو لوې علمي کار ئې دا کړے چې
د هرغږ د توري له پاره ئې یوه علامه کارولې ده. او تورے
یې له توري سره نه' دے مل کړے او هم ئې د پښتو
لیکلو رسم الخط نستعلیق ټاکلے دے. (وګورئ لومړے
ضمیمه جدول)

(۳) تر دهٔ راوروسته د لیکدود دوهم مکتب د اخوند
درویزهٔ مکتب دے. او لکه څنګه ئې چې د دهٔ د نثر د
سبک پیروي کړې ده، همداسې ئې د دهٔ غوندې پښتو
ته یو لیکدود هم جوړ کړے، او د پښتو لیکلو له پاره ئې د
نسخ خط غوره کړے دے. (وګورئ دوهم ضمیمه جدول).

(۴) د پښتو لیکدود دریم زوړ مکتب د خوشحال خان خټک
دے. د دهٔ لکه څنګه چې د روښان او درویزه له لیکنو
سترګه نه' د کېده. همداسې د دوي لیکدودونه هم ورته
بې ارزښته وو. نو ځکه ئې د پښتو لیکدود ژغیري مکتب
رامنځ ته کړ او په یوه قطعه کښې ئې وویل: ؎

که د نظم که' د نثر که' د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه
نه' پخوا پکښې کتاب وهٔ نه' ئې خط وهٔ
دا دې ما پکښې تصنیف کړل ښو کتابه

دې لیکدود هم د دهٔ په کورنۍ کښې تر سلو کلونو عمر وکړ

او دهٔ هم دَ پښتو ليکدود له پاره نستعليق ليک غوره کړ (وګورئ دريمه ضميمه جدول)۔

(۵) په معاصر تاريخ کښې وزير محمّد ګل خان مومند چې دَ پښتو په بيا احياء او رسمي کولو کښې ئې دروند لاس وهٔ ځان ته داحق ورکړ چې دَ پښتو دَ لغت او ژبدود دَ ليکلو ترڅنګ دَ پښتو نوے ليکدود هم جوړ کړي۔ او هيله ئې وه چې دا ليکدود پښتانهٔ ومني، او دود ئې کړي۔ خو دَ دهٔ له ټول رسمي، اداري، سياسي، او ادبي قوت او منلتوب سره سره دا ليک دود نهٔ شو۔ او دَ عبدالعظيم ساپي په نامه ئې يوازينی پيرو پيدا کړ، چې دَ دهٔ ليکدود ئې وپالهٔ (وګورئ څلورمه ضميمه جدول)۔

(۶) تر دهٔ وروسته دَ پښتنو يوه بل سياسي او ادبي شخصيت ارواښاد خان عبدالصمد خان شهيد هم وغوښتل چې دَ پښتو له پاره يو نوے ليکدود جوړ کړي۔ او له خپل ملي او سياسي نفوذ نه په استفادې سره ئې په پښتنو کښې دودم کړي. خو دَ دهٔ ليکدود هم يوازې دَ دهٔ يوه پيرو محمّد اکبر اڅکزي وپالهٔ او په نورو پښتنو کښې ئې نفوذ ونکړ، (وګورئ پنځمه ضميمه جدول)۔

(۷) په اوس وخت کښې دَ پښتو نامتو شاعر او ليکوال ښاغلي قلندر مومند هم هڅه وکړه چې په خپله نامه ليکدود جوړ کړي او په پښتنو کښې ئې دود کړي۔ خو دا هم ونهٔ منل شو

او پیروان یې تر یو دوو تنو نهٔ اوړي - او ورسره دا هم د یادولو ده چې بایزید روښان، اخوند درویزه، خان خوشحال خان ختک، محمّد ګل خان مومند او خان عبدالصمد خان اڅکزي ټولو د خپل لیکدود دپاره خپلې خپلې نخښې جوړې کړې وې خو دا سناغلی قلندر مومند له خوا په رامېنځ ته شوي لیکدودکښې دا نوښت نشته او ټولې نخښې یې له بېلا بېلو لیکدودي مکتبونو نه اخستې او په حقیقي معنیٰ قلندرانه لیکدود دے، چې هم د قلندرانو د کند غوندې د رخت له بېلا بېلو ټوټو نه روغ شوے او هم د قلندرانو د کچکول غوندې د هرکور پخه کړې دوړې پکښې راټوله شوې ده - له هم دې امله کوم لیکدود چې ځنې کسان یې قلندري لیکدود بولي د لیکدود د مکتب په توګه نشي پېژندل کېدلے - او یوازې یوه هڅه یې بللے شو - (وګورئ شپږم ضمیمه جدول) -

دا هم د یادولو ده چې په بنیادي توګه د پښتو لیکدود دود شوے مکتب چې په ټوله پښتونخوا کښې خورشو هم هغه د اخوند درویزه له خوا رامېنځ ته کړے مکتب وهٔ چې تراوسه دوام لري - البته ډېرې لږې لاسوهنې او بدلونې پکښې شوې او اساسات یې په ځائے پاتې شوي دي -

تر دې تشریحاتو وروسته د اروا ښاد محمّد ګل خان مومند له خوا د رامېنځ ته کړي لیکدود په تیوري چې ده پخپله روښانه

کړي غږېږو :-

دے عقیده لري چې یو سړے په یوه داسې لیکدود کښې چې دَ ټولو پښتنو له خوا منل شوے وي او نن ورځ هم مروج وي حق نهٔ لري چې کوټې پکښې ووهي - اما کهٔ چېرې دغسې یو اصلاحات چې دَ لیک دَ دوَل اساس ته ضرر ونهٔ رسوي او دَ لیک او لوست دپاره آسانتیا راولي او پښتانهٔ ئې وَمني نابوده به هم نهٔ وي -

په هم دې بنا نوموړي ارواښاد چې دَ "ټ" له پاره کومه بڼه "ټ" ټاکلې دلیل ئې دا دے چې په مروجه "ټ" کښې دَ یوه توري له پاره دوې نخښې شوي چې پاس دوه ټکي او ترې لاندې غړوندے دے، نو دهٔ دَ دې دپاره چې دا یوه نخښه شي، دَ لاندې نیمه کړۍ بره خېژولې او دوه ټکي ئې دَ نیمې بلې کړۍ په توګه ورسره یو ځائے کړي او یوه توري ته ئې یوه نخښه ترې جوړه کړې ده - او هم وائي چې "ټ" دَ کلمې په مینځ کښې له میم سره التباس پیدا کوي - چې په نوي دوَل لیکلو سره دا التباس هم له مینځه ځي -

دَ "ځ" دَ توري له باب لیکي چې ځینې دوه لاندې باندې ټکي ورکوي - او ځینې بیا دَ "ح" په سر همزه لیکي نو وروستے شکل چې ومنل شي ښهٔ به شي - دَ مومند بابا په دې لیکنه کښې دا هم شته چې دَ مهموزې "ځ" شکل له پخوانه راروان

دے او دهٔ یوازې ترجیح ورکړې، چې دا دَ ځینې کسانو دا دعوی چې دا شکل مومند بابا ایجاد کړے په خپله ردوي -

دَ "ډ" په برخه کښې چې دَ عربي تزیني "د" ورته خوښوي، دا دلیل راوړي چې په دې توګه دال او ډال په شکل کښې سره بیلیږي او دَ غږوندي یا کړه دَ لګولو تکلیف له منځه ځي او دَ اشتباها تو مخ نیوے هم کیږي - همدا راز دَ "ړ" لپاره دَ عربي تزیني "ر" کارول هم په همدې منطق بنهٔ بولي -

"ګ" په کش دَ دې له پاره لیکي چې له فارسي ګاف سره په تلفظ کښې بیلوالے نهٔ لري - یې کاني ئې په څلور ډوله ځکه وېشلي دي چې ښې سره وپیژندلې شي او یوه دَ بلې په شان تلفظ نهٔ شي -

او هم په پاې کښې نظر ورکوي چې پښتو دَ نسخ په ځائے نستعلیق لیک ولیکله شي -

دے وائي چې دَ پښتو دَ لیکدود په اړه ما خپل ملاحظات څو کاله مخکښې ډېرو پښتنو ورونو ته اظهار کړي - او لکه کندهاریانو ورونو ډېرو هم تر یوې درجې منلي خو بیا هم وړ دي چې درست پښتانهٔ پکښې غور او یوه پریکړه وکړي -

په دې توګه دهٔ سره له دې چې خپل جوړ کړے لیکدود په یا څهٔ منطق بنا کړے وهٔ خو بیا هم دَ فکري استبداد پلوي نهٔ وهٔ، هم ئې قبلاً له ډېرو کسانو سره مصلحت پرې کړے وهٔ

او هم يې غوښتل چې دَ پوهانو يوه ډله غونډ پرې وکړي او بيا يې ومني. که څهٔ هم دَ ارواښاد مومند بابا جوړ شوې ليکدود لکه چې وهو ويل دود نهٔ شو، خو دهٔ دَ پښتو دَ خدمت په لاره کښې په دې برخه کښې هم ګام کښېښود. له پښتو سره يې دَ خپلې ژورې مينې څرګندونې وکړې او خپله دا دعوىٰ يې رښتيا کړه:

ـــه

پښتو کړمه پښتو وايمه زهٔ تل
ده لالى زما پښتو نهٔ لرم بل
سر او مال مې دواړه جار دي تر پښتو
ژوند او مړينه مې نثار دي تر پښتو

همنه!     *

## لومړی جدول:

## دَ روښان ليکدود:

| | |
|---|---|
| ب | ډ = ړ ، ړ = ژ |
| ټ | ړ |
| چ | ښ |
| څ | ڼ |
| ډ | ک ګ |
| ډ = ځ | (ليکدود: نستعليق) |

دوهم[۲] جدول:

دَ درويزه ليکدود:

پ

ټ

چ

څ = {ځ / څ}

ډ

ړ

ژ

ږ

ښ

ګ = ګ

(ليکدود: نسخ)

دريم[۳] جدول:

دَ خوشحال خان ليکدود:

پ ، چ

ځ = ځ

څ = څ

ډ = ډ

ړ = ړ ، ژ

ږ = ږ

ښ = ښ

ټ - ټ = ټ   ګ = ګ

ڼ = ڼ

ئ

(ليکدود: نستعليق)

څلورم جدول:

دَ محمد ګل خان ليکدود:

پ

ټ = ټ ، چ

ځ

څ

ډ = ډ

ړ = ړ

ژ ، ږ ، ښ

ګ = ګ

ڼ = ڼ

ې ، ۍ = ي

ئ = {ئ / ئ}

(ليکدود: نستعليق)

## پنځم جدول:

### د اوول سمد خان لیکدود:

ا = آ

پ ، چ ، ژ

ٻ = ټ

ځ ، څ ، ډ، ړ، ژ

ړ = ړ

ښ = ښ

ڼ = ڼ

ۇ = معروف واو

ۉ = مجهول واو

ې = ې ، ے

ۍ = ۍ ، ئ

(لیکدول نسخ)

## د قلندر مومند څخه:

ي ، ې
ۍ
ڼ
} د کابل د لیکدود څخه

ے
ئ
ګ
} د پېښور د لیکدود څخه

ھ
=
} د خان سمد خان له لیکدود څخه

ۀ } د زور په ځای د زورکي له پاره

و } معدوله، مجهول او حتی معروف بې قانونه غورځول شوي.

(لیکدول: نسخ)

همیش خلیل

# دَ محمدګل خان مومند دَ ژوند څو واقعات

## دَ هغهٔ دَ ورور عبدالکریم خان په حواله

دَ نوو اصلاحاتو دَ نفاذ په خاطر څهٔ وخت چې دَ غازي امان الله خان حکومت دَ افغانستان جینکۍ دَ مغربي تعلیم دَ زدکړې په غرض یورپ ته لیږلي، دَ حکومت په دغه اقدام دَ خلقو جذبات لمبه شول - مذهبي عالمانو دَ حکومت مخالفت شروع کړو - دَ دغه مخالفت په وجه دَ شینوارو په علاقه دَ بغاوت اور ولګېدلو - او لږ ساعت کښې ډېر زر خواوُشا خور شو - باغیانو دَ کهي چونړۍ تالا ترغهٔ کړه - دغه وخت ننګرهار کښې شېر احمد خان رئیس تنظیم وهٔ - او محمدګل خان مومند فرقه مشر وهٔ - بغاوت سنګین وهٔ او اثرات ئې دَ فرقه مشر په حیث موصوف درانهٔ محسوس کړي وو - هم دغه وجه وه چې دَ خپلو فرائضو په ایمانداری دَ انجامولو له مخه به

ني مرکز وخت په وخت د بغاوت د متوقع نتیجو او خطراتو د
صحیح حالاتو نه خبرولو - ولې بل خوا محض د ننګرهار رئیس تنظیم
سردار شیر احمد خان د خپل ذاتي مخالفت په وجه د شینوارو
دغه بغاوت ته هیڅ اهمیت نهٔ ورکولو - او هم د دغه روایتي
مخالفت له اثره خپل مرکزي حکومت ئې هم د حالاتو د صحیح
واقعاتو په خبرولو د ذاتي مخالفت جذبه غالبه وه -

هر څو کهٔ محمد ګل خان مومند د حالاتو د نزاکت له مخه په
حالاتو د قابو راوستلو دپاره د مرکز نه بیا بیا د کمک
خواستونه کول - ولې بل خوا د شیر احمد خان رائې ته د مرکز له
خوا د اهمیت ورکولو په نتیجه کښې کهٔ یو خوا د فرقه مشر
محمد ګل خان مومند د ننګرهار نه کابل ته تبادله کړې شوه
نو بل خوا د بغاوت د متوقع حالاتو په بهیر کښې باغیانو
د ننګرهار او کابل ترمینځه د ټیلیفوني رابطې د پرې کولو نه پس
جلال آباد ته هم مخه کړه - جلال آباد ته په رارسېدلو
باغیانو قتل عام، خونریزي او لوټ مار شروع کړو - او سرکاري
او غیر سرکاري املاکو وغیره ته کافي نقصانونه ورسېدل -
ولې د خرابي ئې بسیار نه پس د صلحې په ناکامۍ کښې د ننګرهار
رئیس تنظیمه سردار شیر احمد خان هم بدل کړې شو - او د
بغاوت رفع کولو کار د ننګرهار د رئیس تنظیمه په حیث محمود خان
یاور ته وسپارلې شو - ولې دغه وخت بیا اوېدهٔ له سره تېرې

وې، باغیانو د ېره وسله تر لاسه کړې وه. او ننګرهار د باغیانو
د لاس لاندې وه. محمود خان یاور د ېر کوششونه وکړل. ولې
هغه هم کامیاب نه شو. بلکې باغیانو ګرفتار کړو، چې د تیلیفون
رابطې پرېکېدلو په وجه مرکزي حکومت د محمود خان یاور
د ګرفتارۍ نه څو ورځې پس خبر شو.

د محمود خان یاور د ناکامۍ نه پس باغیانو سره د صُلحې
د پاره حکومت سردار علي احمد جان د ننګرهار رئیس تنظیمه
مقرر کړو. خو دغه وخت بیا د بغاوت اُور تر خوګیانو رسېدلے
وه. خوګیانو کښې باوجود د خپل اثر رسوخه د بغاوت په رفع
کولو کښې هغه ته مشکلات وو. خو د باغیانو سره خبرې
اترې لا جارې وې. چې د ېکښې حبیب الله بچه سقه کابل
ونیوُو.

دغه وخت سردار علی احمد جان په جګدلک کښې د باغیانو
د جرګې سره د صُلحې خبرې کولې. دغه وخت د ملک په سیاسي
حالاتو کښې د بدلون له مخه د سقاوي فوځونو د مقابلې په غرض
محمّد ګل خان مومند په جګدلک کښې د سردار علي احمد جان
سره یو ځائے شو. او له دغه ځایه ئې د بچه سقه حبیب الله
خلاف د جنګ تیاریانې شروع کړې. او په یو منظم دول ئې د
خپلو د ېرو مرستیالو سره د بچه سقه حبیب الله خلاف فعالیتونه
شروع کړه. سردار علي احمد جان د خپلې فتحې په نتیجه کښې

د بادشاهت خوبونه لیدل او دا ئې خیال وه چې د حبیب الله بچه سقه د شکست نه پس د افغانستان بادشاه شي. هر څو که محمد گل خان مومند د سردار علي احمد جان په ارادو رسېدلے وه. ولې مصلحت ئې هم دا گڼلو چې د سقاوي حکومت خلاف په جنګ کښې د سردار علي احمد جان سره اوږه په اوږه مقابله وکړي. یو خوا محمد گل خان مومند د سردار علي احمد جان سره د دشمن خلاف جنګېدو. ولې بل خوا ئې د کامیابۍ په صورت کښې د سردار علي احمد جان خلاف د غازي امان الله خان په هرسته د یو بل جنګ منصوبې هم جوړولې. خو چې څه وخت خوګیاني او ننګرهار کښې نورې قبیلې د سردار علي احمد جان د ارادو نه خبر شول، نو د هغه د دغو ارادو خلاف ئې د ګندمک بازار چور کړو. او د سردار علي احمد جان د بادشاهت د منصوبې خلاف ئې د بغاوت بېرغ پورته کړو. سردار علي احمد جان چې پوهه شو نو د ګندمک نه کامې ته وتښتېدو. د کامې نه پېښور او بیا له دغه ځایه د کوټې په لار قندهار ته ورسېدو هلته ئې هم د سقاوي فوځ مقابله وکړه. ولې په جنګ کښې ګرفتار کړے شو. بیا کابل ته راوستلے شو او د ډېرو اذیتونو تېرولو نه پس په توپه والوزولے شو.

دغه واقعه کښې د محمد گل خان مومند کردار په ملّي او ملکي فرائضو کښې د هغه د فرض شناسۍ او وفادارۍ حقیقت په ګوته

کوي -

دَ یورپ دَ سفر نه وطن ته رارسیدلو نه پس کوم اصلاحات چې غازي امان الله خان نافذ کول غوښتل- هغو کښې ځنې داسې خبرې هم وې چې دَ مذهبي عالمانو په خیال دَ اسلامي شریعت خلاف وې- دغو مذهبي عالمانو دَ دې مخالفت وکړو او دَ حکومت خلاف ئې په اُولس کښې دَ مخالفت دپاره زمینه تیاره کړه. نتیجه دا شوه چې دَ پکتیا صوبې مختلفو قبیلو چې پکښې منګل، احمدزي، تني، توتاخېل او دریځ خېل وغیره شامل وو، بغاوت وکړو- او دغو قبیلو په ګډه دَ خوست په چوڼۍ حمله وکړه- سرکاری املاک ته نقصان ورسولے شو- او ډیر سرکاري سامانونه او وسلې تالا ترغه کړے شوې-

دَ هر قسمه حکومتي مدافعت باوجود چې حالات قابو نکړے شول، نو دَ بغاوت دَ دغه اُور سړولو دپاره یو خواکه دَ سردار شاه ولي خان له خدماتو فائده ترلاسه کړے شوه. نو بل خوا مُحمّدګل خان مومند. په پکتیا کښې دَ هردلعزیزۍ او ذکر شوو قبیلو دَ مشرانو او په تېره تېره دَ ببرک ځدران سره دَ ذاتي تعلقاتو په وجه دَ موصوف خدمات هم پکار راغلهٔ- او دغه شان دَ سردار شاه ولي خان او مُحمّدګل خان مومند غېرګ کردار دَ بغاوت په دغه لګېدلي اُور دَ اوبو کار وکړو-

دَ افغانستان په سیاسي او انتظامي امورو کښې دادَ مُحمّدګل خان

مومند دَ ژوند یوه بله واقعه وه چې دَ مرحوم په انتظامي او
سیاسي فراست او بصارت رڼا اچوي۔

دَ حبیب الله بچه سقه په کابل دَ قبضې نه پس څهٔ وخت
چې نادرخان دَ فرانس نه کراچۍ او بیا پېښور ته راورسېدو
او څهٔ وخت چې په یوه موقعه نادرخان او سردار محمّد هاشم
خان سمت جنوبي کښې دَ سقاوي لښکرو خلاف دَ قومي لښکر
راغونډولو دپاره هلې ځلې کولې۔ محمد گل خان مومند هم ننګرهار
ته راورسېدو او دَ درېو سوو کسانو په یو لښکر جوړولو کښې
کامیاب شو۔ اګر کهٔ دغه وخت نادرخان بیا دَ کُرمې له خوا
افغانستان کښې داخل شوے وهٔ۔ او محمد گل خان مومند دَ
خپل مختصر لښکر سره په دغه خیال دَ سقاوي فوځونو
سره جنګ شروع کړو، چې حکومتي لښکر دلته په جنګ مصروف
کړي او دَ کُرمې له خوا دَ نادرخان دَ حملې دَ کامیابۍ دپاره
اسباب پیدا کړي۔ ولې سقاوي فوځونه په دغه جنګ
کښې کامیاب شول۔ او محمّد هاشم خان چې بازید خېلو کلي
کښې مقیم وهٔ، له دغه ځایه بیا پېښور ته لاړ۔ په دغه
موقعه سقاوي حکومت دَ سردار محمّد هاشم خان او محمد گل خان
مومند دَ ژوندي ګرفتارولو دپاره دَ یو غټ انعام مقررولو
اعلان کړے وهٔ۔

وروستو بیا څهٔ وخت چې نادرخان په خوست کښې دَ

قبائلي خصوصاً دَ محسودو، احمدزو وزیرو او ځاځو قبائلو حمایت تر لاسه کړو، نو دَ محسودو او احمدزو وزیرو لښکر دَ سردار شاه ولي خان او ځاځو قبیلي لښکر دَ شاه محمود خان دَ کمان لاندې دَ لالندر، چهل ستون او دارالامان له لارې په لوګر او خواؤشا علاقو دَ سقاوي فوځونو سره جنګ شروع کړو.
په عین زمان کښې دَ سردار شاه ولي خان او سردار شاه محمود خان دَ کُمک دپاره دَ محمد ګل خان مومند لښکر هم دَ بیني حصار شهوکۍ، قمرۍ او باګرامۍ په لار سیاه سنګ ته ورسیدۀ. دَ لوګر او خواؤشا په دغه جنګ کښې سقاوي فوځونو ماتې وکړه. دري واړو فوځونو په کابل پرله پسې حملې شروع کړې. تر وله شپه هم زبردست جنګ وشو او بله ورځ کابل فتح او حبیب الله بچه سقه سره دَ خپلو ملګرو او باله بچه په ارګ کښې محصور شو.
دَ نادرخان دَ حکومت په دور کښې محمد ګل خان مومند په ننګرهار کښې رئیس تنظیمه مقرر کړے شو. په دغه علاقه دَ امن په قیام او جنګ زپلو علاقو په سر دوباره آبادولو او حکومت په مستحکم کولو کښې مرحوم ډیر اهم کامونه پوره کړۀ.
کوه دامان چونکې دَ حبیب الله بچه سقه علاقه وه. بیا دَ بچه سقه دَ شکست نه پس دا علاقه حکومتي عسکرو تالاترغه

کړي هم وه، له دغه عمله دلته به اکثر بدامني وه او حالات به له قابو نه بهر وو- دغه علاقه کښې د امن د قرار د او خلقو د اصلاح کولو په خاطر محمد ګل خان مومند له ننګرهاره کوه دامان ته وغوښتے شو- لږه موده کښې موصوف د خپل سياسي فراست او تدبّر په برکت دلته هم امن او استحکام راوستو -

کوه دامان کښې د امنيت راوستلو نه پس چونکې د قندهار سياسي حالات هم په ځلځ نه وو- ځکه نو د قندهار د رئيس تنظيمه په حيث ئې د مرحوم تبادله قندهار ته وکړه - د ژمي موسم وه - او د کابل او قندهار ترمينځه هغه وخت تړوله لار بېخي کچه او د سفر قابله نه وه- ځکه نو محمد ګل خان مومند د پېښور په لار کوئټې او بيا له هغه ځايه قندهار ته لاړ- هلته ئې هم په خپل سياسي بصيرت د امن په قيام کښې اهم کردار ادا کړو - په خپل کردار ئې د خلقو زړونه خپل کړه - او چې څه وخت بيا له قندهاره تلو، نو د قندهار اولس ورپسې ژړل- د قندهار د رئيس تنظيمه په حيث ئې په قندهار کښې د تګ راتګ د آسانۍ دپاره سړکونه جوړ کړه، سکولونه ئې پرانستل، د ميرويس نيکه قبر ئې جوړ کړه او د احمد شاه بابا د مزار د ګنبت مرمت ئې وکړه -

دَ قندهار نه کابل ته دَ رارسېدلو څو ورځې پس صفحاتِ
شمال یعني مزار شریف، میمنه او سمنګان وغیره ته هم
په ذکر شوې عهده ولېږلے شو. هلته ئې هم دَ خپل ملازمت
په موده کښې ډېر تعمیري کارونه وکړل. سمنګانو کښې ئې
یو عظیم الشانه جماعت جوړ کړو. دَ مزار شریف، سمنګانو او بلخ
دَ ښاریو نقشې ئې جوړې کړې. سړکونه ئې جوړ کړه، صنعت
زراعت او تجارت ته ئې ترقي ورکړه.

دَ صفحات شمال نه پس په قطغن، قندوز، تالقان،
بغلان او بدخشان کښې هم دَ خپل ملازمت په دوران
موصوف دَ یو رئیس تنظیمه په حیث ډېر تعمیري کارونه وکړل
خصوصًا تعمیراتو او ذکر شوو ولایتونو دَ صنعت او تجارت په
ترقی کښې دَ محمدګل خان مومند لوئ لاس وو. دَ موصوف
هم دَ دغه ملازمت په دوران څۀ وخت چې اعلیحضرت
نادرشاه شهید[۱] کړے شو نو هغه وخت محمد هاشم خان
صدرِ اعظم وو. او په دوره مزار شریف ته لاړ وو. دغه
دوره کښې دَ صدر اعظم سره محمدګل خان مومند هم وو. میمنې ته
چې ورسېدل، دوي ته دَ اعلیحضرت نادرشاه دَ مرګ خبر
ورسېدو. محمد هاشم خان خوف واخست. ولې محمدګل خان
مومند تسلي ورکړه او تر کابله ئې په خیر و عافیت سره درسوو.

محمدګل خان مومند په کال ۱۳۱۹ هش دَ سرکاري ملازمت

---

[۱] ۸ نومبر ۱۹۳۳ء

نه مستعفي شو. او سمنګانو کښې ئې خپله زمیداري شروع کړه.
۱۳۲۸ هـ ش کښې کابل ته راغلو او د بریکوټ (کابل) د کرایه په
یو کور کښې په کال ۱۳۴۳ هـ ش د زمری په میاشت د زړه
د ناروغتیا په وجه وفات شه. او په حکومتي اعزازاتو د اعلیحضرت
محمد ظاهر شاه په موجودګۍ د شهدای صالحین په ادیره
کښې خاورو ته وسپارلے شو.

یوه ورځ د محمد ګل خان مومند سره ایبکو (سمنګان) کښې
د یو ملاقات په وخت اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په فارسۍ
کښې خبرې کولې. او محمد ګل خان مومند ورسره پښتو وئیله. د
خبرو په دوران کښې اعلیحضرت هغو ته ووئیل:

"زهٔ په پښتو پوهیږم، خو وئیلے نهٔ شم."

دوي ورته په جواب کښې ووئیل:

"صاحبه! زهٔ هم په فارسۍ پوهیږم، خو وئیلے نهٔ شم"

---

د محمد ګل خان مومند د کشر ورور عبدالکریم خان د وینا مطابق
د مرحوم د اوچتو خدماتو په صله کښې د حکومت له خوا
چې د لمر د اعلیٰ نشان او شاهي فرمان د ورکړې کوم اعلان
شوے وهٔ، هغه د سیاسي رقابتونو په وجه ترمرګه پورې
موصوف ته ونهٔ رسیدل.

سناتور غلام نبي چکنوري

# تاریخ ساز شخصیّت

نن په ۳۰ ستمبر ۱۹۹۴ء کال د خلیل اولسي ادبي جرګې لخوا د رحمان بابا رح د باګرام په تاریخي ښار د بوې پښتونخوا د یو دروند پښتون او ملّي شخصیّت مرحوم وزیر صاحب محمد ګل خان مومند په یاد علمي او ادبي دستوره نمانځل کیږي. دا د خوښۍ فرصت دے چې د لرې پښتونخوا د نامتو پښتون شخصیت مرحوم میر احمد شاه رضواني په یادکښې د یو ادبي تقریب نه پس د خلیل اولسي ادبي جرګې لخوا دا نیک قدم پورته شو. زهٔ خلیل اولسي ادبي جرګې ته د دې تاریخي نیک اقدام مبارکي وایم. او دا د پښتون قوم د بیدارۍ نیک فال ګڼم. وزیر صاحب محمد ګل خان د پښتو او پښتنو بابا څرنګ چې یو غښتلے جرار جنرال وهٔ. ښهٔ مدبر او سیاست مدار هم وهٔ. څومره چې په فوجي امورو کښې فعال او لائق افسر وهٔ. دغه راز په ملکي او اولسي کارونو

کښې مهربان مشر او مردم دار هستي وه - دَ قوم او جامعې په
نبض پوه او دَ حکیم ملّت مقام ئې لارهٔ - ادیب، شاعر، لیکوال،
مصنّف، فصیح او بلیغ مقرر وهٔ - خوش صحبت انسان وهٔ او دَ
دوستانو سره به ئې په خوره تنده او مخصوصه مسکا خودماني
انداز کښې خبرې اترې کولې - دَ وزیر صاحب په ملاقات کښې
خاص خوند او کیف موجود وهٔ - او هر دلعزیز سړے وهٔ - زمانهٔ
یاد شي چې یوه ورځ راته دَ ولسي جرګې یو ممبر قاري عبدالله
دَ مزار شریف وسېدونکي ووئیل چې دَ وزیر صاحب ملاقات ته
به ځو - ما ورسره ومنله - دوموړي ممبر په قوم ترکمن زلمے
وهٔ او دَ خپلو مشرانو څخه ئې دَ وزیر صاحب دَ همه ګیر شخصیّت
تعریف اوریدلے - او دَ وزیر صاحب دَ لید و آرزومند وهٔ - موږ
چې دَ وزیر صاحب سره مخ شو، نو ما ورته دَ قاري عبدالله
معرفي وکړه چې دا دَ شورتیپې ولسوالۍ منتخب وکیل دے - قاري
عبدالله په ډیر ادب په ظریفانه طرز کښې ووئیل چې زهٔ
دَ تروې غوندې یم، زهٔ پوه شوم چې وزیر صاحب دَ مزار
شریف دَ ولایت دَ خلقو په زړونو کښې څومره محبوبیت لري - دا
خبره مې دَ مشت نمونهٔ خروار په توګه ولیکله - یاده دې وي
چې وزیر صاحب دَ مزار شریف په ولایت کښې ملکي او نظامي
رئیسِ تنظیمه پاتې شوے وهٔ - او دَ هغه ولایت دَ ازبکو، ترکمنو
او تاجکو سره ئې ښې خاطرې پاتې دي - وزیر صاحب په قندهار،

ننګرهار او صفحات شمال کښې رئیس تنظیمه وه. د مرحوم علامه عبدالحی حبیبي صاحب وینا ده چې: "مایه قندهار کښې اخبار چاپولو. او څو واره راته وزیر صاحب ووئیل، چې حبیبي! ستا اخبار ما سره حضور نه کوي." حبیبي صاحب بیا ووئیل چې "په دې خبره زما سر نه خلاصیږي." یوه ورځ راته وزیر صاحب کټ مټ ووئیل چې "په اخبار کښې دې پښتو کمزورې او لږه ده." بله ورځ ئې چې اخبار ولوست نو د پښتو نیمګړتیا پکښې پوره شوې وه. حبیبي صاحب ووئیل چې "زه ئې وبللم خوښې ئې څرګنده کړه. او په اخبار کښې ئې څنې ځایونه په نخښه کړي وو، چې وروسته ما تصحیح کړل."

وزیر صاحب څنې پښتانه شمالي ولایاتو ته د ناقلینو په شکل منتقل کړل. او هلته ئې ورته املاک عامه زمکې ورکړې او د ډېرو کوچیانو قبیلې ئې دېره نشین کړې، او دا کار ئې د یو مصلحت عامه په بناء وکه، چې د یو خوا پښتانه د اقتصاد له مخې د آرام ساه واخلي او له بلې خوا د هغه ځائے د تاجکو ازبکو او ترکمنو قومونو سره چې د یو ملک او ملت خلق دي. د مشترک المنافع په اصولو ژوند وکړي. او د یو بل په خوي بوي سره اشنا او مالوف شي او د وخت او د شرائطو د تقاضا په صورت کښې په شریکه د وطن دفاع وکړي، البته وروسته د حکومت وخت له خوا د ناقلینو سلسله جاري وساتل

شوه. خو دَ دې بنهٔ عمل مؤسّس او دَ دې ابتکار مبتکر وزیر صاحب محمد گل خان مومند وهٔ. وزیر صاحب پوره وسعت نظر لارهٔ او دَ فراخ فکر خاوند وهٔ. وزیر صاحب به وئیل چې افغانستان دَ ټولو افغانانو کور دے. په لویو لویو اجتماعاتو کښې به ئې دَ مثال په ډول وئیل چې دَ پښتو وروڼو احمد، محمود، زید، عمرو بکر شریک یو کور وي، نو طبعاً دَ مشر ورور په دوم یادېږي.

وزیر صاحب دَ پاکې عقیدې مردِ مؤمن وهٔ. دَ وزیر صاحب دَ اوداسهٔ او مانځهٔ ترتیب ډېر بنکلے او په مناسبه طریقه او په اهتمام سره وهٔ او هر چا به خوښاوهٔ. وزیر صاحب ډېر لا جائیداده خلک جائیداد مند کړل. خو پخپله ئې په بامیانو کښې دَ یو کور او مختصر جائیداد چې دَ دوي دَ خاندان دَ نفقې حصول او میلمه پالنه به ترې کېده، نه علاوه هېڅ بل چرته ئې څهٔ نهٔ لرل. او دَ کابل په یو خام کور کښې په کرایه وسېدهٔ. وزیر صاحب په وزیرئ کښې فقیر او په فقیرئ کښې امیر وهٔ. خدائے پاک دې ئې وبخښي، آمین.

په آخر کښې وایم چې په کابل کښې دَ وزیر صاحب دَ یوې کلیزې په موقعه دَ دوي په قبر مې دَ خپلو خبرو په پائې کښې یو نظم وئیلے وهٔ، اوس غواړم چې دَ معززو حاضرینو حضور[۱] ته هغه نظم واؤروم.

---

[۱] وګورئ صفحه: ۱۰۷

شهسوار سنگروال نیازي

# دَ محمدګل خان مومند دَ شخصیت لنډ جاج

نن مونږ دَ یوه مېړني پښتون په یاد را ټول شوي یُو او دَ هغهٔ په کارنامو خبرې کوو- دے هم لکه دَ نورو با تورو پښتنو په څېر هغه شخصیت دے، چې دَ پښتنو تاریخ پرې ویاړي- وزیر محمدګل خان مومند یادوُم، هغه چې پښتون وو- او پښتو ژبې ته ئې په خپل وار نهٔ هېرېدونکي خدمتونه کړي دي- دَ هغو پښتنو ژبې ته چې په سیمه او نړۍ کښې په یوه تورزن قوم شهرت لري-

هانوې (HANWAY) په اروپا کښې لومړے مؤرخ دے چې دَ پښتنو په تاریخ ئې څهٔ لیکلي دي- او وائي هغه پښتانهٔ چې دَ هرات لمرخاتهٔ ته پراتهٔ وو، کله ئې چې اسلام راوُړ نو بیا ئې دا سپېڅلے دین په ټول افغانستان کښې خپور کړ- او دَ مخزن افغاني او نورو مؤرخینو په وینا سره بیا هم

دغه پښتانهٔ وو چې دَ عمادالدّین محمد قاسم سره يې مرستې وکړې . او دَ اسلام رڼا يې دَ افغانستان نورو کاونډيو ملکونو ته وځلوله . بيا هم دغه پښتانهٔ وو چې دَ حميد لودي په مشرتابهٔ يې جيپال ته ماته ورکړه ، دَ هغې سيمې حاکم شو. او دَ خپلواکۍ بيرغ يې پورته کړ.

بيا دغه پښتانهٔ وو چې دَ سُلطان محمود تر بيرغ لاندې يې هندوستان ونيو. لکه چې "ارمسترېنګ" وائي: "هغه وخت چې سُلطان محمود سومنات نيوهٔ، پښتنو خپلې لمنې يو دَ بل سره غوټه کړې او پر دښمن يې حمله وکړه . دا دَ دوي غيرت او ميړانه وه چې په سومنات فتح يې نصيب شوه." او دَ سومنات دروازه پښتنو له ځان سره افغانستان ته راوړه.

کله چې انګريزانو په لومړي ټېري کښې دَ افغانانو له لاسه ماتې وخوړه ، نو وېيله چې اميردوست خان خپل ځوي وزيرمحمداکبر خان چې هري سنګ ته يې په جمرود کښې خوله ماتوونکې ځواب ورکړ ورته ولېږي تر څو خپل پوځونه ترشا کړي او امير به بيا دَ افغانستان پاچا شي . دوست محمد په پټو سترګو ومنله او خپل وزير ځوي ته يې ووئيل چې خپل پوځونه ترشا کړي.

دَ دې له پاره چې انګريزان خپل بائيللې نړيوال باور بيا تر لاسه کړي ، نو په افغانستان يې ورودنګل ترڅو خپل اسيران ترلاسه کړي . نو بيا يې له اسيرانو سره يو ځائې دَ سومنات دروازه هم راوړه او هندوانو

ته يې وويل، دا دے موږ ستاسو د سومنات مقدسه دروازه راوړه ...... نو بيا هندوانو به په ملنډو سره وويل، چې کاشکې د مکناتي سرهم درنه په افغانستان نه وے پاتې بنه داوه چې هغه مو راوړے وے.

هم دا راز غوريان، لوديان او سوريان وو چې هم يې د پښتنو تاريخي پت او عزت وساته، او هم لودي او سوري پادشاهانو د مغلو سره دعوې وهلې. همدغه پښتانه وو چې همايون د بابر ځوئ د دوي له ويرې هند پرېښود. او ايران ته وتښتېد. اکبر، جهانګير او نور هم د يوسفزو له لاسه بې غمه کېنېناستل. او همدغه د پښتنو مشر خوشحال خان خټک وو چې اورنګ زيب ته دوه کاله د پښتنو ځمير په ځېر د اټک په غاړه پروت وو. همدغه پښتانه وو چې د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا تر مشرتابه لاندې يې خپل برم وچت وساته.

وزير محمد ګل خان مومند هم په خپل وار د پښتو او پښتونولۍ شمله هسکه ساتلې ده، د توري په ځاے کښې تورزن او د قلم په ځاے کښې قلم زن، ښه او تکړه ليکوال. که له يوې خوائې د کورنۍ جګړې د له منځه ورلو له پاره نه ستړي کېدونکې هڅې کړي، نو له بلې خوا يې د يوهٔ خواخوږي ليکوال په توګه ژبپوهنې ويې پوهنې، ليک دود، د پښتو ژبې سوچه والي ته ډېره ډېره پام لرنه کوله. د پښتو لويه نحوه د ده له مقالو نه پرته او وم کتاب

او وروستے کتاب کمپل کیږي، چې لا چاپ شوے نه دے.
وزیر صاحب دَ ژبې په سوچه والي ډېر ټینګار کاوهٔ. دَ ټولو
پښتنو له پاره ئې دَ ګډ لیک دود سپارښته کوله. او دهٔ به په
وار وار دا څرګندوله چې دَ پښتو ادبي مراکز که دننه وي
او که دَ باندې باید یوه متحده او متفقه سبک ولري. او پرته
له لوستو نه چې هغه آزاد دي نور باید په لیکلو کښې دا
څرګنده نهٔ شي چې دا دَ فلاني ځائے اسلوب دے او دا دَ
فلاني....!

ځنې اصطلاحات چې دَ دهٔ په فکر ورتلل. لکه چې دهٔ دَ
پښتو لیک دود په موضوع دَ "پښتو لیار" په سرکښې دَ "پښتو
لیک دول" دَ عنوان لاندې خپل هغه افکار چې دَ پښتو دَ
رسم الخط دَ اصطلاح له پاره ئې لرل بیانوي او دَ ځنو تورو
لکه: ټ، ډ، ړ، ښ، څ په شکل باندې بحث کوي.
دَ ځنې لهجې، اصطلاحاتو او لغاتو له پاره چې باید ټول پښتانهٔ
پرې وپوهېږي. دَ مخه مو وویل چې یو ادبي مرکز ته ضرورت
وو چې بیا دَ وزیر محمد ګل خان په زمانه په کندهار کښې پښتو
ادبي انجمن جوړ شو او بیا ئې کوښښ وکړ چې دَ مختلفو سیمو
لیکوال استازي پکښې وټاکل شي. وزیر صاحب دَ انجمن دَ افتتاح
او پرانستلو په موقعه څرګندوي:

"که څهٔ هم پښتو په اصل کښې یوه ژبه ده مګر بیا هم

دَ کندهار او نورو ځايو په بعضې لغاتو، طرز او
شېوه کښې سره لږ فرق کوي. چې دغه فرق لرې
شي او متفرق لغات له هر ځايه غونډ شي نو دَ
انجمن معاون او نور دوه تنه اعضا دي دَ نورو
ځايو وي ...."

اُستاد خادمؔ په کندهار کښې دَ پښتو انجمن دَ جوړېدو
او دَ پښتو مجلې دَ خپرېدو په هکله دَ وزیر صاحب رول تاکونکي
ګڼي او وائي:

" وزیر صاحب دَ کندهار پښتو انجمن تاسیس کړ. دَ
کندهار پښتنانه ئ لیکوال ئې وپالل، وئې نازول او رُشد ئې ورکړو
۱۳۱۲ کال کښې دَ دلوې په ۲۴ کوم وخت چې زهٔ دَ کندهار پښتو
ادبي انجمن ته دَ عضویت په حیث ورسېدم نو څهٔ موده
مخکښې وزیر صاحب شمالي خوا ته په ریاست تنظیمه تللے وو...."

محمد ګل خان مومند چې دَ هېواد په هره برخه کښې
وظیفه سرته رسوله، په هغه ځائے کښې ئې پښتو ژبې ته
ورخدمت هم کړے دے. او پښتنانهٔ ئې دې ته هڅول چې
دَ پښتو ژبې خپل خپل لغات په خبرو اترو کښې استعمال کړي.
دَ دهٔ دَ خولې خبره چې وائي: "یوه ورځ دلته دَ جلال آباد دَ خوا
یو پښتون راغلے وو. خټکي ته ئې خربوزه وئېله. ما ورته
ووئېل دا خټکے دے. دهٔ ووئېل: " خټکي خو زمونږ دَ وطن دي

دَ کابل هغو ته خو خربوزې وائي"

له دې خبرې نه دَ دهٔ مقصد دا وو، چې ولې په خپله ژبه کښې ځنې کسان پردي لغات ننباسي. خادم صاحب دَ "پاسني پښتون" تر سرليک لاندې مقاله کښې ليکي :

"يوه ورځ ورځخه په مجلس کښې ما دَ مزار دَ آب وهوا پوښتنه وُکړه چې مزار څنګه دے، ګرم به وي؟ دهٔ وويل هو تود دے. په داسې طريقې سره ئې داځواب ادا کړه چې ما پوه کړې - چې زهٔ بايد دَ ژبې دَ اصلي لغاتو په ځائے پردي لغات مستعمل نهٔ کړم. دا زما دَ دهٔ سره وروميے وار معرفي او ليدل وو. تر دې وروسته زهٔ ډير محتاط شوم"

وزير صاحب پښتو ته دخدمت په لاره کښې نهٔ هيريدونکي خدمتونه کړي دي، پخپله زغليدلے، پخپله ئې قلم چلولے، او ډير څهٔ ئې ليکلي دي. او هم ئې ډير ليکوال دپته هڅولي دي. ترڅو خپلې ملي ژبې ته دَ خدمت ورهٔ کړي.

هغه وخت چې په ١٣٠٧ لمريز کال کښې دَ هيواد دَ ختيزو سيمو فرقه مشر وهٔ، په جلال آباد کښې دَ محمد ګل خان په نوم يو معلم چې هغهٔ هم دَ خپلې ژبې سره مينه درلوده او بيا دَ همدې مينې له کبله دَ "اتحاد مشرقي "مرستيال وټاکل شو. نو وزير صاحب به دے خانته غوښته او دهٔ ته به ئې دَ پښتو دَ لغتو دَ سوچه ليکلو هدايت کاوهٔ....

فاضل استاد په همغه مقاله کښې زياتوي :

" زما ياد دي چې زه په جلال آباد کښې معلم وم . زمونږ د مکتب يو معلم چې محمد ګل خان نومېده اوس په اتحاد مشرقي کښې معاون دے، هغه ته به ئې د نوو لغتونو لار ښوونه کوله . دا راته نه ده معلومه چې د دېنه څومره موده مخکښې ده د پښتو د لغتونو په غونډولو لاس پورې کړے وو او د ملي ژبې په باب ئې يوه راسخه عقيده د ځان سره قائمه کړې وه "

کله چې سردار محمد هاشم خان دېته کمارل شوے وو چې د پېښبود له لارې ځان د افغانستان ختيزو ولايتونو ته ورسوي، په دغه وخت کښې محمد ګل خان مومند په ننګرهار کښې وه . او د هغه ئې تود هر کلے وکړو . وزير صاحب د کورنيو شخړو د مېنځه وړلو په کار بوخت وه او د خلکو پوره باور ئې ترلاسه کړے وه - په دغه وخت کښې يوه جريده هم "د کور غم" په نامه خپروله چې ډېر مضامين ئې د خلکو د اصلاح او يو موټي کېدو له پاره ليکل .

محمد ګل خان مومند لا په ننګرهار کښې وه چې د انګريزانو د تېري په خلاف ئې يو لوې مارش وکړ او بيا ئې وروسته يو اعلاميه هم خپره کړه چې په يو ځائے کښې ليکي :

" د افغانستان ملت په د خپل ټول قوت سره د هغه

مخالفت کوي او دَ آزادۍ تباه کوونکي هېڅ تجويز به په عمل کښې راوستو ته پرې نهٔ ښودے شي."

وزير صاحب دَ ډېرو هلو ځلو په ترڅ کښې دَ ننګرهار په هډه کښې چېرته چې مرحوم اخونزاده صاحب دفن دے دَ قومونو دَ مشرانو يوه ستره جرګه جوړه کړه. او په نتيجه کښې يو شمېر مشران دَ جرګې په توګه دَ محمدګل خان مومند په مشرۍ پکتيا ته لاړل. ترڅو هلته دَ قوم مشرانو ته څرګنده کړي. او داډګېرنه ورکړي، چې زموږ او ستاسو هدف يو دے. دَ هېواد دَ ختيځو او جنوب ختيځو سيمو څخه ډېرو خلکو دَ کورنيو جګړو دَ پائ ته رسولو له پاره مخ په کابل مخه وکړه. او دَ پوځ کنټرول دَ محمدګل خان مومند له خوا کېدهٔ په ډېره مېړانه نې خپل لښکر چهلستون نه دارالامان او له هغه ځايه دَ اسامي غرلمنې ته ورسوهٔ.

لنډه دا چې له دغه اخ و ډب نه وروسته يوځل بيا ډېر پښتانهٔ ليکوال او شاعران په نوي فکر او تازه نظرياتو رامېنځ ته شول. او هم دَ ښوونې دورې ځنې علمي او فرهنګي موسّسې بيرته له سره ژوندۍ شوې. په کندهار کښې "پښتو انجمن" او بيا پښتو مجلې، "کابل" مجلې او بيا دَ زېرې جريدې ډېر پښتانهٔ ليکوال او شاعران په خپله غېږ کښې وروزل. او ډېرو پوهانو او ليکوالو دَ دې لارې خپلې علمي

چارې ترسره کړې چې په دې حساب ۱۸۳ کتابونه دَ علومو په مختلفو برخو کښې چاپ شول. (دَ پښتو ټولنې لنډه تاريخچه کابل ۱۳۵٦ کال، ۲۳ او ۳۰ مخونه).

لکه چې څرګنده ده. محمد ګل خان پښتون مومند وؤ نو ځکه ئې مومند تخلص ځانته غوره کړے وه.

مومند دَ سړبن په ټولنيز ګروپ کښې يوه ډيره ستره قبيله ده. او وئيل کيږي چې دوي غورياخېلي پښتانهٔ دي. او دَ غوريا په نوم سړي څلور ځامن لرل. دَ هغوله جملې نه ئې يو دولت يار وهٔ چې دهٔ دوه ځامن لرل، يو ئې مومند او بل ئې داؤد نوميدهٔ. دَ مومند کومه اولاده چې په هوارو سيمو کښې استوګنه لرله، هغوي ته ئې کوز مومند او کوم چې په غرنيو سيمو کښې وسيدل هغوي ئې برمومند وبلل. خو کوزني او برني مومند دواړه يو دي: شمال ته ئې باجوړ، لوئيديز ته ئې کونړسيند، جنوب لويديز ته ئې دَ خيبر دره او ختيز ته ئې دَ پيښور ضلع موقعيت لري. او لهٔ دې سيمې پرته په نورو سيمو کښې هم خوارهٔ وارهٔ وسيږي.

بابر په خپل مشهور کتاب تزوک بابرې کښې چې په ۱۴۵۰ م کال ئې کښلے دے، دَ دغې قبيلې دَ موجوديت ذکر ئې دَ غزنې په جنوب کښې کړے دے. داسې عقيده هم موجوده ده، چې دوي په اول کښې دَ کندهار په غوره مرغې

کښې مېشته ؤ، چې له هغه ځايه بيا دَ غزني لوېديز ته دَ
شمېر دَ زياتوالي له کبله دَ "ترنک" غاړو ته ولېږدېدل، مشهور
خېلونه ئې: اليم زی، بابېزي، کوډاخېل، حسن خېل، اوتمانزي
کاچې، اتمرخېل، ترکزي، خواجه زي، نظرخېل، عيسیٰ خېل
موسیٰ خېل، ميروخېل، او نور. محمد ګل خان مومند دَ حسن
خېلو قبيلې ته منسوب دے.

وزير صاحب دَ برې پښتونخوا مومند دے. او له مروجې
زده کړې نه وروسته ئې په افغانستان کښې لوې لوې کارونه
کړي دي. دَ هېواد دَ کورنيو چارو وزير، په بېلو بېلو ولايتونو
کښې تنظيمه رئيس او فرقه مشر وو. خو دَ خپلې مورنۍ اوملي
ژبې په نوي ژوند او غوړېدنګ کښې ئې لوی لاس درلود.

مومند صاحب نه يوازې يو اديب او ليکوال وُ. بلکې
اداري او نظامي چارو کښې هم دَ لوې صلاحيت خاوند وُ.
او دَ دې نه سربېره په ډېرو ماتيکو سفرونو کښې ئې هم
برخه اخستې وه. دَ اعلحضرت امان الله خان په زمانه
کښې دَ محمد ولي خان ترمشرتابه لاندې کوم هيئت چې بهرنيو
هېوادونو ته سفر کړے وُ. دَ هيئت دَ نورو غړو په لړ کښې
يو هم وزير محمد ګل خان وُ. او نور غړي ئې: ميرزا محمد يفتلي
عبدالرحمن لودين، فيض محمد زکريا، قاضي سيف الرحمان،
عبدالحميد خان، خواجه هدايت الله، بشير احمد خان، عزيز الرحمن

خان او نور- شجاع الدوله خان دَ دربار غلام بچه، او علي احمد خان، په هغه وخت یعني دَ امان الله خان په دور کښې په بیلو بیلو وختونو کښې دَ کورنیو چارو وزیران ټاکل شوي وو-

دَ محمد ګل خان مومند په دور کښې دَ روښان فکرو ځوانانو دَ سیاسي فعالیت مهم ځائے دَ مشروطه غوښتونکو سازمان وو- چې دَ هیواد مهم شخصیتونه پکښې راټول شوي وو او دغه ملي آزادي غښتونکے نهضت که له یوې خوا دَ بهرني ښکیلاکګرانو په خلاف وهٔ. خو له بلې خوا دَ هیواد په کورنیو چارو کښې دَ مطبوعاتو آزادي، دَ ملي شورا جوړیدل، دَ اساسي قانون تدوین او تعلیق، دَ نوې کابینې جوړول، دَ ټولنیز عدالت له پاره هلې ځلې، دَ نوې ښوونې، روزنې او دَ نوي فرهنګ پرمختیا او پراختیا ته ئې هم پاملرنه لرله-

محمد ګل خان مومند هم دَ نوي فکر سړے وهٔ- دَ هیواد دننه بیلا بیلې سیمې ئې لیدلې وې او دَ خپلې ټولنې ټولې ناخوالې ورته څرګندې وې- او هم ئې له هیواد نه بهر ځینې بهرنې هیوادونه هم لیدلي وو- او دَ بهرنیو هیوادونو تکنالوژي ئې په خپلو سترګو لیدلې وه، نو پرته له شکه سړے وئیلے شي، چې دے دَ زاړهٔ فکر سړے نهٔ وو- دهٔ دَ هیواد له ودې او پرمختګ سره مینه درلوده- نو هرو مرو به دَ وخت دَ سیاسي نظریاتو تر اغیزې لاندې راغلے وي- خو دا چې په رسمي توګه به

مشروطه غوښتونکو کښې د ډلې سره وهٔ ـ او کنه څو دلائل موجود دي :-

ځنې دلائل داسې دي چې وزیرصاحب رسمي غړیتوب نهٔ درلود ـ خو له ګوند نه بهرنیو کسانو داسې فکر کاوهٔ چې ذوموړے د دې سازمان غړے دے ـ

ځنې دلائل داسې دي، وائي کله چې امان الله خان سیاسي واکمني ترلاسه کړه ـ د مشروطه غوښتونکو نهضت هم په دوه برخو ووېشل شو ـ چې یوې ډلې ته ئې رادیکال او بلې ډلې ته ئې محافظه کار ووئیل ـ ځنې دغه اختلافات د لومړي مشروطه خواهانو نه ګڼي کوم چې په حبیبیه لیسه کښې ځنې استادان د دې سازمان غړي وو ـ ځنې د دربار پورې تړلي مشروطه غوښتونکي او ځنې بیا هغه کسان کوم چې په نورو کارونو کښې مشغول وو ـ خو دا خبره یو څهٔ د تأمل وړ ده ـ ځکه چې وئیل کیږي کهٔ دغه سازمان په زماني لحاظ سره بیل وهٔ خو هدف ئې یو وهٔ ـ

د هغه مو ووئیل چې یوه ډله رادیکال او بله ډله ئې محافظه کار وه ـ د رادیکالو په سرکښې عبدالرحمٰن لودین وهٔ ـ کهٔ څهٔ هم په ښکاره ئې د مشروطه شاهي نارې وهلې ـ ولې په اصل کښې جمهوریت غوښتونکے وهٔ ـ محمدګل خان مومند د دې ډلې له ځنو غړو سره دوستانه اړیکې درلودې ـ او په هغه سفرکښې چې له عبدالرحمان لودین سره ملګرے وهٔ ـ د هېواد د راتلونکي په

باب ئې ګڼه دربېځ درلوده. څو کله به چې د راډيکالو مشرتابه هيئت د مير غلام محمد غبار په کور کښې منظمې غونډې جوړولې نو د محمد ګل خان مومند په هکله د ګډون کوم ذکر نهٔ دے شوے. همدا راز بله ډله د محافظه کارو په نوم چې مشر ئې سيد قاسم لغمانے وهٔ. دوې د "تفريح کلوپ" په نوم کله کله د غلام محی الدين خان په کور کښې چې په سنسکرت ژبه هم پوهېدهٔ راغونډېدل. او په دولتي چارو به ئې خبرې کولې. او کله کله به ئې په پغمان او قرغه کښې د مېلې په نوم خپل اهداف هم پرمخ وړل.

وئيل کېږي چې مومند صاحب له سيد قاسم لغماني نه پرته له غلام محی الدين خان سره هم کله کله ليدل. او نوموړي په کور کښې مجرده وسېدهٔ. ګومان کېدلے شي چې وزير صاحب به د سنسکرت ژبې په باب چې له پښتو ژبې سره څهٔ خپلوي لري، هم خبرې کړې وي. ځکه چې محمد ګل خان له پښتو ژبې پرته په ځنې بهرنيو ژبو هم پوهېدهٔ.

په پائې کښې اجازه راکړئ، چې يو ځل بيا په دې ټکي ټينګار وکړم چې وزير محمد ګل خان مومند د څو بعديزه او هراړخيزه شخصيت څښتن وهٔ. او د وخت د ادبي بهير په لړکښې دے هم لکه د يوهٔ ځلېدونکي ستوري په څېر د هنر او ادب په آسمان کښې وځلېد. او د هغه وخت او بيا وروسته ستري ادبي پېښې

وشوې۔ لکه چې د څخه هم ورته اشاره وشوه۔ په کندهار کښې د پښتو انجمن جوړېدل او بیا د دې انجمن په څنګ کښې د پښتو مجلې خپرېدل، او په کابل کښې د ادبي انجمن جوړېدل او بیا د دې انجمن له خوا د کابل مجلې خپرېدل او د زېرې په څېر نورې د پښتو ټولنې له خوا خپرونې.... دا ټول هغه څه وو. چې ډېر تکړه عالمان، پوهان، شاعران یې وروزل او بیا یې ډېر څه ولیکل، چې په دې ډله کښې محمد ګل خان مومند، پوهاند عبد الحیّ حبیبي، استاد قیام الدین خادم، استاد ګل پاچا الفت عبد الرؤف بېنوا، پوهاند صدیق الله رښتین، امین الله زمریالی مجروح، محمد ګل نوري، پائنده محمد زهیر، رحمت الله پوپلزی ملاجان کاکړ، حبیب الله تږی، شپون، روهي او نور بېشمېره لیکوالان او شاعران د معاصر ادب او ادبیاتو د فکري بدلون او ملي مفکورې تکړه غړې ووه او دي۔

له کومو ماخذونو چې استفاده شوې، هغه دا دي:۔

(۱) اوسني لیکوال، دریم ټوک (۲) د نثر هنداره

(۳) پښتانه شعراء څلورم ټوک (۴) د پښتو ادب تاریخ رښتین صدیق الله

(۵) نادر افغان اول جلد (۶) ننګیالي پښتانه۔

(۷) بحران ونجات کابل، (۸) افغانستان در عصر نوین —

(۹) پښتني قبیلې۔

الحاج غلام فاروق چشتي

# د پښتنو پلار

ښاغلی وزیر صاحب ګل محمد خان مومند د افغانستان د تاریخ له نومیالیو شخصیتونو څخه دی.

پلار یې د امیر حبیب الله خان شهید په پادشاهي کښې په کابل کښې وسیدهٔ. محمد ګل خان د حبیبي د مکتب د لمړۍ دورې محصل او فارغ التحصیل دی. چې کله له تعلیمه فارغ شو، د کابل په دولتي کارونو کښې شامل او د استقلال په جنګ کښې یې برخه واخسته - له غازي محمد نادرخان سره یې پوره معرفت او ملګیري درلوده. د وطن د نجات په معرکه کښې له غازي محمد نادرخان او غازي شاه محمود خان او غازي شاه ولي خان سره یې داسې کلکه ملګرتیا کړې وه، چې هغو به دهٔ ته خپل ښځم ورور ویل.

زهٔ به د دهٔ د حکومت د وخت څني د دهٔ خاطري په لنډه صورت

بیان کړم - وزیرصاحب یو متدین په پښتو او پښتونواله مین شخصیت وه - زما خدائے بخښلي پلار د یوه سرګزشت قصه داسې بیانوله :

یوه ورځ د زاړه بغلان ښار ته په هغه وخت کښې چې د قطغن ادارې مرکزیت تازه له خان آباد څخه بغلان ته رالنتقال شوے وه - د یوه کار لپاره راغلم - د ماسپښین د مانځه ادا کولو وخت وه - ما اودس وکړ - یو لوې جمات ته چې هغه هم وزیرصاحب ګل محمد خان نوے جوړ کړے وه. د مانځه ادا کولو لپاره ورغلم - وزیرصاحب به هم پنځه وخته مونځ هغلته ادا کوو - جمع تیاره شوه ، مونځ وشو - خلک روسته له دعا یو په بل پسې ووتل - زما پلار وائي چې زهٔ د څهٔ وړدي دعا په سبب وځنډیدم - خو د وزیرصاحب نظر په مسجد کښې پرې لګیدلے وه - د جمات په برنډه کښې له خپلو ملګرو سره په خبرو مشغول وه - کله چې زهٔ له جمات څخه بهر راووتم وزیر صاحب یو قدم مخې ته راواخست - خواه ئې خلاصه کړه او په غیږه ئې روغبړ راسره وکړ - ما ته ئې ووئیل : کاکا زمونږ ښار بغلان ته نوي راغلي یاست - راځه غرمه به زمونږ په کور کښې سره کښینو - دے د مخې شو او نورکسان پسې روان وو - خو د دهٔ د حرم انګړ ته ورننوتو - او د میلمنو د ناستې او مړے خوړلو په خونه کښې سره کښیناستو -

هغه زمانه کښې به دَ قطغن په ښارونو کښې دولس نیمې بجې دَ ماسپښین مونځ ادا کېده - او دَ غرمې مړه به روسته له مانځه خوړله کېده. لاسونه مو ووينځل - دسترخوان خورشو خادمانو دَ هرچا مخې ته وچه مړه کښېښودله - بیا ئې دَ شودو لوښې په مېنځ دَ دوه دوه کسانو کښېښودل - وزیرصاحب غوښت چې ماسره خوش طبعي وکړي - ماته ئې ووئیل" کاکا! څرنګه دسترخوان خو به ډنګر نهٔ وی ؟ "

زما پلار وائي چې مائې په ځواب کښې ووئیل " ښه ده چې ورځ ده کنه، که شپه وے، دَ آسمان ستوري به په کاسو برېښېدلے وے "

وزیرصاحب وخندل او وې وئیل، "اوبهٔ خو به ئې کمې نهٔ وي " دَ ملګرو خولې په خندا شوې -

بیا ئې له ما پوښتنه وکړه: " کاکا! په خټه څوک يې؟" ماورته ووئیل" مونږ دو تاني يو" دهٔ ووئیل "دوتاني خو ښهٔ تکړه قوم دے - خو په توره کښې مونږ مومند تر تاسو زیات یُو" هغهٔ ورته ووئیل "زهٔ خو نورنهٔ پوهېږم خو سيين سروانانو به موږ ته وئيل" کله به چې دَ پښتنو دَ برکنو ځوانان چرته بهر نورو ملکونو ته په غدیه ولاړل او څهٔ مال او منال به ئې په کېده سره راوړے وهٔ - او بیا به ئې دَ سرو په سر برخې سره وېشلې، نو دَ دوه مومندو به دَ يوه سړي برخه وه "

وزیر صاحب دَ دې خبرې په اورېدلو خېلې خولې ته لاس وښوے او داسې په خندا کېدې په شاتات شو. روغمره ئې وخندل، چې له سترګو ئې وښکې وڅڅېدلې. روسته ئې ووئیل "خدائے دې ښهٔ درسره وکړي کاکا جانه! ډېر دې وخندولم."

دَ محمدګل خان په نظر پښتني اخلاق هغه وو چې نهٔ تذلّل پکښې وي او نهٔ هم تکبّر. هرچاته به ئې په بالمثل برابره سترګه کتل. ورورولي او برابري دَ پښتون قوم خاص صفت ئې حسابوهٔ.

یو سړي ووئیل چې دَ بغلان په ښار کښې یوه ورځ زما دوکان ته یو سړے ودرېدهٔ او وې وئیل: وروره! یوه مصلحتي پوښتنه درنه کوم. اجازه ده؟"

هغهٔ ورته ووئیل "وایه څهٔ خبره ده". دهٔ ووئیل چې "زهٔ دې ښار ته نوے راغلے یم. هېڅوک نهٔ پېژنم. شپه هم راتلونکې ده. زما سره یوه پېغله مستوره لور ده. او هم لس زره طلاوې په دې خورځین کښې لرم. اوس یو داسې کور راوښایئست، چې هغلته شپه تېره کړم او دا زما دواړه امانته په امنیت سره وساتل شي." دوکاندار وائي په دې موقعه راسره نور دَ ښار سپین روږي څوکسان هم ناست وو. له هغو سره مې هم په دې موضوع کښې مصلحت وکړ. روسته له ډېره فکره او سنجش څخه مو دا غوره کړه چې

په عفت او امانتدارۍ کښې خو وزیر محمد ګل خان ډاعتبار وړ دے۔ او سړي ته مو ووئيل چې د وزیر صاحب کور ته ورشه پهره دار ته ووایه چې مونږ د وزیر صاحب په کور کښې مېلمانهٔ یُو۔ لوړ دې له خورجین سره حرم سرائے ته ورولېږه او تهٔ په مهمانخانې کښې کښېنه۔ کله چې وزیر صاحب راغے، بیا دغه خپله موضوع ورته بیان کړه۔ دهٔ چې هرڅهٔ در ته ووئيل هغسې وکړه۔

دغه مېلمانهٔ د وزیر صاحب د کور خوا ته روان شول۔ سبا هغه سړے دوکاندار ته د شکریې لپاره ورغلے، او د شپې سرګزشت ئې ورته بیان کړو: "مونږ چې ماشام د وزیر صاحب کور ته ورغلو، پهره دار ته مو ووئيل چې مونږ د وزیر صاحب مېلمانهٔ یُو۔ لوړمې د طلاؤ له خورجین سره دننه حرم سرائے ته ولېږله او زهٔ مهمانخانې ته ولاړم۔ کله چې وزیر صاحب راغے، ما هم د نورو مېلمنو په قطار کښې پوښتنه ورسره وکړه، او بیا مې داخپله خبره ورته ووئيله۔ دے په مسکا شو، وې وئيل: "خېر دے خدائے به خېر کړي"۔ کله چې مو مړۍ سره وخوړله او مونځونه مو وکړل۔ خپل ناظر ئې را وبالهٔ هدایت ئې ورکړ، چې "یوه خاصه کوټه دوي ته ورکړئ، چې دے له خپلې لوړ او خورجین سره شپه ځانته خاطرجمع تېره کړي۔ او دروازه د کوټې دې له دننه ټخنه زنځیر کړي۔ کله

چې سبا شو، بیا به ما ته دوې راولئ." بس په هغه سبا چې راویښ شوو، دَ سحر مونځ مو ادا کړو. ناظر راغئ ما ته ئې ووئیل چې راځه وزیرصاحب غوښتے یاست. زهٔ له ناظر سره وزیر صاحب ته ورغلم. وزیرصاحب دَ شپې دَ په خیر تېرېدلو پوښتنه را څخه وکړه. او ما ئې مننه وکړه. بیا دهٔ راته ووئیل "کله چې مو چائے په دغې کوټې کښې وڅښه، بیا به رخصت شې، هغه ځائے ته چې ځې ولاړ شه."

داسې وائې، هغه آمر چې په خپل شهواني نفس او هم دَ حرص او آز په عزیزو حاکم او مسکت وي نو په نېک بختو خلکو به حاکم یا آمر وي.

وزیر محمد گل خان دَ مال او ثروت محبت نهٔ درلوده. او عفت او پاک لمنې ئې ساتلې وه.

وزیر محمد گل خان دَ پښتو ژبې خدمت هم خپله وظیفه گڼله. څو جلده کتابونه "دَ پښتو لیاره" او "دَ پښتو سیند" په نامه ئې کتابونه لیکلي او خپاره کړي دي.

موږ دَ دهٔ روح ته دَ بخښنې دُعا کوو. خوې نهٔ دے ځینې پاتې موږ ټول پښتانهٔ ئې ځامن یو.

همیش خلیل
*

# دَ محمدګل خان مومند دنیکهٔ او پلار په حقله

اګر که دَ محمدګل خان مومند تفصیلي حالات دَ دغه کتاب په څو مقالو کښې راغلي دي - ولې دَ موصوف دَنیکهٔ مؤمن خان او پلار محمد خورشید په حقله څهٔ لږ غوندې نور معلومات چې تراوسه په تیارهٔ کښې وو، زهٔ ئې دَ مرحوم دَ کشرورور عبدالکریم خان په حواله ذکر ضروري ګنړم -

محمدګل خان مومند ځوې دَ محمد خورشید ځوې دَ مؤمن خان ځوې دَ عبدالکریم خان ځوې دَ عبدالرحیم خان وهٔ. مومن خان دَ ننګرهار نه بلخ ته لاړ وهٔ. دَ امیر دوست محمد خان په وخت دَ هغهٔ مشاور وهٔ، چې وروستو بیا دَ امیر عبدالرحمان خان او هغهٔ دَ مخالفینو ترمینځه جنګ کښې په غزنیګک (سمنګان)

ووژل شو او دَ بلخ دَ شیخ حسن بابا په هدیره کښې خاورو ته وُسپارل شو۔

دَ وزیر محمد گل خان پلار محمد خورشید په خپل ژوند سرکاري ملازمت کښې په مختلفو عهدو کار کړے وۀ۔ سرکانو، اسمار او بریکوټ کښې پرله پسې دَحاکم په عهده او وروستو بیا دَ شینوارو په کهې چوڼۍ هم دَملکي او هم دَ نظامي کارونو په عهدو فائز وۀ۔ دَ ملازمت په وروستو شپو ورځو کښې په مزار شریف دَ توپخانې دَ عسکرې فرقې مشر او بیا هم دَ مزار شریف دَ ډِه دادي فرقې عونډ مشر شو۔ دَ خپل ملازمت ترسره کولو پس په پنشن رخصت کړے شو۔ او دَ دۀ په ځائے محمد گل خان مومند دَ مزار شریف دَ ډِه دادي فرقې فرقه مشر وټاکل شو۔

## عبدالکریم خان:

دَ محمد گل خان مومند کشر ورور دے۔ دَ کال ۱۳۳۵ھ دَ محرم په میاشت کښې پیدا شو۔ مروجه علوم ئې له عالمانو په کور ولوستل۔ خپله زمیداري به ئې کوله۔ دَ محمد گل خان مومند سره دَ هغهٔ دَ ملازمت په دوران دَ افغانستان په ډیرو علاقو هم پاتې شوے دے۔ دَ یو ځوئ او شلورو لوڼو پلار دے۔ ځوئ ئې محمد پتنګ نومیږي چې په کال ۱۹۸۴ء کښې دَ زړۀ دَ بند یز په وجه دَ پنځۀ شلو پښتو کلونو په عمر کابل کښې وفات

شو، او دَ خپل عظیم ترهٔ سره په هدیره کښې خاورو ته وسپارل شو. محمد پښتنګ چونکې دَ خپل پلار ایکې یو ځوې وهٔ. ځکه په پلار او ترهٔ ډېر ګران وهٔ. ترهٔ محمد ګل خان مومند به ورته له ډېرې مینې "ګرانګ" وئیل.

ګرانګ دَ حقوقو له فاکلتې (فیکلټي) فارغ التحصیل وهٔ. دَ سرکاري ملازمت په دوران دَ کونړ په "درهٔ نورَ" کښې علاقه‌دار وهٔ. وروستو بیا دَ "پروان" ولایت دَ اُولسوالۍ حاکم شو. دَ څلورو ځامنو (محمد سرګند، عبدالرحیم، اېمل، عبدالحمید) او دوه لونړو پلار دے. یوه لور ئې په جان محمد او بله په ډاکټر عبدالرشید وادهٔ ده.

عبدالکریم خان دَ ذکر شوو نمسا نمسیو او خپل یوزوم عبدالله ایوبي سره نن سبا دَ پېښور ښار دَ ګنج دروازې دَ قاضیانو دَ محلې په یو کور کښې دَ مهاجرت شپې ورځې تېروي.

دَ محمد ګل خان مومند ایکې یوه لُور چې په شېر احمد[1] خان مومند مورچه خېل وادهٔ ده. دَ خپل خاوند او څلورو ځامنو قاسم، اجمل، اکمل او اباسین سره لکه دَ نورو افغان مهاجرو شبقدر ډېرے کښې وسېږي. ✽

---

[1] ښاغلي رښتین صاحب په خپل مضمون کښې صالح محمد خان لیکلے دے خو صحیح شېر احمد خان دے.

شمس الهدیٰ شمس

*

# میرویس باباؒ
# احمد شاه باباؒ
# او
# محمد گل باباؒ

په پښتنې تولنه کښې دَ بابا ویئلو مستحق کېدل څهٔ آسان کار نهٔ دے، او نهٔ پښتانهٔ هرچا ته بابا وائي۔ همدا علت دے چې زمونږ دَ پنځه زره کلن تاریخ په وږدو کښې څو په ګوتو شمېر پښتنو ته دَ بابا خطاب شوے۔ بېټ نیکهٔ ځکه نیکهٔ بلل شوے چې دَ لوي خدائے له درباره نې دَ پښتنو بچودَ ډېر والي او آسوده ژوند سوال کړے دے۔ میرویس ته ځکه دَ نیکهٔ او بابا خطاب شوے چې خپل قام او هېواد نې په خپل تدبّر او مېړانه دَ ایران دَ صفوي کورنۍ له استعمار او دَ دوي لخوا په افغانانو دَ تپل شوي وحشي ګورګین له وحشت او بربرّیت نه ژغورلي۔ او نومړے نې جهنم ته رسولے دے۔ پښتانهٔ قبائل

ئې په يوه تېغ راټول کړي او افغانستان ئې نهٔ يواځې داچې
له ايراني ښکېلاک نه آزاد کړے بلکې دَ دهٔ ننګيال ځوي شاه محمود
هوتک دَ انتقام په ډول دَ پښتنو بېرغ دَ اصفهان په ماڼيو ر
پولے دے. دَ پښتنو دې بابا دَ جرګو مرکو او بالاخره لويوجرګو
زاړهٔ پښتني دودونه راژوندي کړي دي. ستراحمدشاهٔ ځکه
احمدشاه بابا شو چې دَ پښتني خاورې حدود ئې ټاکلي دي
دَ افغاني هېواد خواؤ شا سيمو مسلمانان ئې دَ کفارو له مظالمو
ژغورلي دي. او دا افتخار يواځې دَ پښتنو دې بابا ته حاصل دے
چې پرته له دې چې دَ مظلوم دَ حقوقو نه دَ دفاع او مخصوصًا
دَ هند دَ نيمې وچې په مسلمانانو باندې دَ سيمې دَ کفارو دَ
تېرې مخنيوے کړے دے. خو دَ نورو دَ خاورې داشغال استعماري
پلانونه ئې نهٔ دي جوړ کړي. دَ لاهور په موزيم کښې اوس
هم دَ احمدشاه بابا دَ همعصر شاه ولي الله ليک محفوظ دے
چې دې ستر ټولواک ته ئې دَ هندوانو دَ ظلم دَ لاسه
شکايت کړے وهٔ او دَ مسلمانانو مرستې ته ئې رابللے وهٔ او
تاريخ شاهد دے چې احمدشاه بابا مسلمانان دَ کفارو له
تسلط نه آزاد کړي او دَ اقتدار په مسند ئې کښېنولي دي. او
دے ترې تللے دے. او پښتنو ته ئې خپل حدود په ګوته کړي او
دَ هغو دَ حفاظت تاکيد ئې کړے دے. او هم بايد ووئيل شي
چې شاه ولي الله دَ ليک په يوه برخه کښې وائي (از براے خدا). دلته دې

خبرې یادول هم ضروري دي چې پښتانه د خپلو حقوقو نه د دفاع او د خپل مربوط قلمرو د ساتنې په لار کښې د هېڅ دول قرباني نه مخ نه اړوي چې د انګرېزانو او روسانو د تېرېو په مقابل کښې د افغانانو د مېړانو داستانونه د تاریخ ژوندي بابونه دي. او مخصوصاً د کمیونیزم د ضد انساني مسلک او د روسي قواوُ د یرغل په مقابل کښې د دوه ملیونو افغانانو د قرباني تراژیډي لا روانه ده. دا بېله خبره ده چې اوس روسان د رباني او مسعود په بڼه په افغانانو د یو ستمي دولت د تپلو ناکامې هڅې کوي.

نو زمونږ د دې باباګانو په ډله کښې یو هم محمد ګل بابا دے. د دغه درون بابا چې هم د پښتنو بابا او هم د پښتو دے، د شخصیت، وقار او عظمت اندازه له یده مرغه چې د ده په ژوند پښتنو ته نه وه معلومه. لکه څومره چې اوس د دې بابا د توصیو او ژغورونکي نتائج مونږ د سر په سترګو وینو. محمد ګل بابا غښتلے پښتون او سپېڅلے مسلمان وو. په پښتو مین وو. په پښتنو مین وو. او په پښتونولۍ مین وو. د دې حقیقت نه اوس کوم انسان انکار کولے شي چې قومونه په خپلو ژبو ژوندي وي. او کومو قامونو چې د خپلې ژبې سره جفا کړې او هېره کړې ئې ده. ورک شوي، سپک شوي او محو شوي دي. لرې به نه ځو، یو مثال به راوړو، مغلو په ټوله ایشیا او نیمه اروپا سوونه کاله حکومت کړے. چې مغلي امپراطوري

دَ تاریخ یو ځانګړے باب دے۔ چې دَ تمدن نوښې ئې اوس دَ نړۍ له محاذباتو نه شمېرل کېږي۔ دا چې خپله ژبه او روایات ئې ساتلي کړل۔ اوس له قبرونو پرته نور هیڅ نشته۔

محمدګل بابا دَ وطن یو مجاهد سپاهي او غازي افغان جنرال وۀ۔ کله چې دَ انګرېزانو په توطیو او پلمو زموږ قهرمان ټولواک غازي امان الله خان چې دَ دې نړیوال استعمار نه ئې خپل هېواد آزاد او دَ ترقۍ په لاره روان کړے وۀ، مجبور شو چې په خپل منځ کښې دَ افغانانو دَ وینو توئېدلو دَ مخنیوي په غرض هېواد پرېږدي او انګرېزانو خپل دوزل شوے او کمارل شوے نوکر دَ سقاو ځوي دَ کابل په تخت کښېنولو۔ نو محمدګل بابا دَ شهید نادرخان سره یو ځائے دَ دې انګرېزي فتنې دَ ختمولو لپاره دغه بې سواده او احمق راښکور او وطن ئې آزاد کړ۔

محمدګل بابا برخېره په دې چې دَ هېواد په شمالي او غربي ولایاتو کښې دَ ترقۍ او پرمختګ بې شمېره کارونه کړي بلکې دَ پښتو ژبې دَ ترویج او انکشاف لپاره ئې داسې هلې ځلې وکړې چې پښتانه باید ترقیامته دَ دې درونډ مشر مدیون وي۔ پښتانه ئې تشویق کړي، تنویر کړي حتیٰ تهدید کړي، چې پښتو زده کړي پښتو ولولي، پښتو ولیکي او هم خپل پښتني روایات هېر نۀ کړي۔ او دا باید په دعوي سره ووایو چې دَ پښتو ژبې دَ ترویج او دَ پښتنو دَ هوسا او بسیا ژوند او روښانه مستقبل

لیاره چې چاخپل ژوند وقف کړی وه، هغه یواځې او یواځې محمدګل بابا دی.

کله چې په افغانستان کښې کمونستانو کودتا وکړه او هیواد ئې په وینو ولړلو. او وچ لاندهٔ ئې یوځلی سېزل. دَ پښتنو دښمنانو دننه په هیواد او هم له هیواد نه بهر شرائط مساعد ولیدل. او دَ پښتنو دَ تباهۍ او پښتنو ژبې دَ ختمولو په غرض ئې پراخه پروګرامونه دَ اجرا لاندې ونیول. دلته دَدې خبرې یادول ضروري دي چې دا دَ افغاني تاریخ یوه ډېره بدمرغه مرحله او بد تصادف وهٔ، چې دَ کمونستي تاتار او روسي یرغل په پښخلس کلن جریان کښې افغانانو دننه او بهر مخلص دوستان او حامیان نهٔ لرل. ځاۀ بربنډو دښمنانو په شکل او ځینو دَ دوستانو او حامیانو په بڼه دَ افغانستان تجزیې او مخصوصًا دَ پښتون قام کاملې تباهۍ ته ملا وتړله. دَ مختلفو پټو او ښکاره دښمنانو سره یو ډېر محیل او مکار موجود چې دَ وروکوالي نه دَ پښتنو دښمنانو دَ دې باتور قام دَ تباهۍ په غرض دَ ستم ملي په پښتون دښمن باند کښې ځائې په ځائې کړي. او په همدغه وطن دښمنه نظریه ئې سمبال کړي وو په تکنیکي ډول په اِسلامي نهضت کښې داخل کړی شو. چې کله هجرت پېل شو او دی (رباني) لاپخوا دَ یو مسلمان رژیم نه دَ بغاوت په سلسله

کښې راښکته شوي وه، دلته يې هدغه خپل پښتون دښمن پلانونه عملي کول پيل کړل. دَ دوي دَ پروګرامونو دَ لړۍ لمړنی کار دَ افغانستان دَ نوم بدلول وو. چې دلته دَ مهاجرو دپاره دَ خراسان په نامه کيمپ جوړ شو. يو بل ستمي دَ اشکِ خراسان په نامه يو کتاب وليکه. بل ستمي دَ عياري از خراسان په نامه يوه رساله کښې دَ سقاؤ خوي ته دَ ولي او غوث خطاب وکړ. کله چې خلقيان ونه توانېدل افغانان دَ کمونيزم منلو ته اړ کړي او رژيم دَ سقوط په پوله ولاړ وه نو روسانو په ډېرې بې شرمۍ دَ ټولو بين المللي موازينو خلاف دَ خپلو يو نيم لک وحشي عسکرو په طاقت او وژونکو وسلو زمونږ په هيواد يرغل وکړ. او دَ بې ننګۍ سمبول، لوی پښتون دښمن او دَ تاريخ توره څېره ببرک يې دَ خپلو عسکرو وړاندې په ټانک سپور راووست. او دَ کابل په ارګ کښې يې وټومبه. دهٔ دَ خپلو ستمي او کمونستو انډيوالانو په لومړۍ غونډه کښې وويل:

(ما قدرت را از يک اقليت مُفت خوار و اکثريت
بی فرهنګ بدست آورديم).

او په دې ډول يې دَ افغانستان پښتون اکثريت ته په ډېرې سپين سترګۍ دَ بې فرهنګه قام نوم ورکړ. خو له بده مرغه چې په افغانستان کښې ډېرې ننګه پښتانه دَ دې انسان

ترشا ولاړ وو- او له هیواد نه بهر هم ځینو بې انصافو پښتنو
په ډېر شور او ځوګ د کارمل زنده باد او انقلاب افغانستان
زنده باد چغې ووهلې. سړی حیران شي چې وطن ته د
یو نیم لک خارجي عسکرو راوستل او د هغوي په وسیله په
لکونو انسانان وژل، کلي، ښارونه او بانډې ئې په بمونو
ویشتل، که دا انقلاب وي نو وطن فروشي او ملي خیانت به
څه وي ؟

حالات داسې راغلل چې افغانان دننه او بهر د داسې
قواؤ ترمنځ کېر شول. چې دواړو یو خپلواک افغانستان
نه غوښت. او هرچا خپل ګوډاګیان په مجبورو افغانانو مسلط
کړل. خو په دوي کښې یوه بله مکاره، محیله څېره هم وه،
چې ملا رباني نومېږي. او په دې ډول دننه ببرک او بهر
رباني سره په تفاهم کښې شول. د پښتنو د تباهۍ د افغانستان
د تجزیې او د لوې تاجکستان د جوړولو منصوبه ئې تُنده کړه
رباني او ببرک په مخفي ډول په ماسکو کښې سره ولیدل او
دې پلان ته ئې د عملي بڼې ورکولو په غرض صلا مشورې
وکړې، چې له ماسکو نه راستون شو، فوراً خپل
کمونست او ستمي قوماندان مسعود ته ئې امر وکړ چې له روسانو
سره اوربند وکړي. او خپله ټوله توجه په شمال د پښتنو
د تار و مار کولو ته وګرځوي. او مسعود د نظار شورای په نامه

kitaboona.blogspot.com

خپل صاو ویست او ستمي باند دي کار ته موظف کړ، چي نتیجه ئې دوه نیم کاله وړاندې د نجیب د ښکورولو نه وروسته د پرچمیانو شعله یانو، ستمیانو او تجزیه طلبانو د ائتلاف په شکل راڅرګند شوه- نو دلته بیاهم د محمدګل بابا پاک روح ته بې اختیاره د دعا لاسونه پورته شي، چي دغه دروند پښتون زړور جنرال او مدبر افغان شپیتۀ کاله وړاندې دې نزاکت ته متوجه شوے وۀ او د سیمې پښتنو ته ئې خبردارے ورکړے وۀ او پښتنو ته ئې په پښتو. پښتونولۍ او افغاني پت او غیرت سمبال کړي وو. او کله چي څوارلس کاله وړاندې د افغانستان د تجزئې او د لوې تاجکستان توطیه د ببرک او رباني په شریکو هلو ځلو پیل شوې. نو د سیمې د پښتنو په غوږونو کښې د دغه دروند پښتون محمدګل بابا د خبردارۍ انګازې واورېدل شوې او په همدغه وخت ئې د هغوی د شنډولو فعالیتونه شروع کړل. او دا نن چي رباني مسعود، ببرک او د دوی خائن او تجزیه طلب اندیوالان د ناکامۍ خوا ته روان دي، د همدې پښتون بابا عظمت او برکت دے. د پښتو بابا- د پښتنو بابا- د پښتون کلچر ثقافت او فرهنګ پلاره بابا خدائے تعالیٰ دې جنتونه درکړي آمین

خاطر غزنوی
*

# خلیل اولسی ادبی جرگہ
# اور
# پشتو ادب

پچھلے ہفتے پریس کلب پشاور میں ایک ادبی تقریب منعقد ہوئی، جس میں پشتو کی ایک ہشت پہلو شخصیت مرحوم محمد گل خان مہمند کی یادیں تازہ کی گئیں۔ یہ تقریب پشتو زبان و ادب کے ایک فعال ادارے "خلیل اولسی ادبی جرگہ پشاور" کے زیر اہتمام منعقد ہوئی۔ خلیل اولسی ادبی جرگہ ایک ایسا ادارہ ہے، جو وقتاً فوقتاً پشتو زبان و ادب کے کسی نہ کسی پہلو اور کسی نہ کسی شخصیت پر اجتماعات منعقد کر کے پشتو زبان و ادب کی خدمت میں پیش پیش رہتا ہے۔ حقیقت یہ ہے کہ ادارے تو بے شمار ہوتے ہیں اور ہیں لیکن ادارہ بعض اوقات کسی ایک شخصیت کی سوچ، فکر، کارکردگی، عمل اور مستعدی کے طفیل زندگی اور زندگی کی

بوقلمونیاں بکھیرتا ہے۔ خلیل اولسی ادبی جرگہ دراصل
تین شخصیتوں کی محنتوں کا نام ہے، ان میں پشتو ادب
کے ایک انتھک لیکن خاموش، ستائش و صلہ سے بے نیاز شخص
ہمیش خلیل ہیں۔ ہمیش خلیل ایک اچھا شاعر اور ایک
محنتی اور باوقار محقق ہے۔ یہ وہ شخص ہے جس نے
تنہا پشتو ادب کی پاکستان میں وہ خدمت کی جو افغانستان
میں شاہی مراعات یافتہ ادارہ پشتو ٹولنہ کرتا تھا۔ پشتو
ٹولنہ دراصل تحقیقی کاموں کو آگے بڑھاتا رہا کہ کسی ایک
ملک میں جو شہنشاہیت کے پنجوں میں رہا۔ تخلیقی ادب
پھول پھل نہ سکا۔ ہاں تحقیق کا کام وہاں خوب ہوا۔ اس
کا سبب یہ ہے کہ تخلیقی کام کرنے والے اپنی ذہانت اور امیج
کے بل بوتے پر ایسی باتیں بین السطور میں بھی کہہ جاتے
ہیں، جو شاہی دور میں شخصی حکومت، ظلم و استبداد،
اور لوٹ کھسوٹ کے خلاف ہوتی ہیں۔ تخلیق کار کے قلم
میں بڑا زور ہوتا ہے اور اسی زور کو ختم کرنے کے لئے کابل
میں بھی پشتو ٹولنہ تحقیق کو بڑھاتا پھیلاتا رہا۔ کابل
کے مقابلے میں پشاور میں دو شخصیتیں اپنی ذاتی صلاحیت
اور ذہنی قوت کے سبب رات دن کام کرتے رہے۔ انہوں نے تخلیقی
کام بھی کیا اور تحقیقی کام بھی، یہ تھے مرحوم نصراللہ خان
نصر اور ہمیش خلیل۔ ہمیش خلیل نے پشتو کے نامور کلاسیکی

اور جدید لکھنے والوں کی تاریخیں مرتب کیں۔ شخصیات کو نمایاں کر کے عوام سے متعارف کرایا۔ نظم و نثر میں لازوال ادب پیدا کیا۔ ھمیش خلیل اس جرگے کے مہاتما گاندھی ہیں، جو عہدوں سے ہٹ کر دوسرے اھم لوگوں کو عملی کاموں میں آگے دھکیلتے رہے۔ ھمیش خلیل بھی ایک باشعور اور اپنی زبان اور ادب سے محبت کرنے والا شخص ہے اس نے اس کی سرپرستی کیلئے بھی ایک شریف سیاستدان، شریف انسان اور اپنے وطن، اپنی زبان اور اپنے ادب سے محبت کرنے والی شخصیت ارباب سیف الرحمان (سابق ڈپٹی سپیکر سرحد اسمبلی) کو منتخب کیا۔ اور انہوں نے اھم اور سنجیدہ ذمہ داری بخوشی قبول کی۔

دوسری شخصیت ایک نوجوان اور فعال شاعر سید صابر شاہ صابر ہے، جو ان دنوں جرگے کا صدر ہے۔ صابر شاہ ایک برق صفت انسان ہے محبت کرنے والا اور اپنے ادارے اپنی زبان اور اپنے ادب کیلئے تلوار بدست بھی ھوجاتا ہے۔ اور پھولوں کے گلدستے بھی بانٹتا ہے۔ ان کے ساتھ سرگرمیوں کا حصہ جناب شیر احمد خلیل، ڈاکٹر میاں سھیل انشاء، شھریار قتاش خیل، جوھر خلیل اور سمیع اللہ سمیع بھی ھیں۔ جو اس ادارے کی روح رواں ھیں۔ پریس کلب کے جلسے میں شرکت کے لئے جس محبت، حکم اور رعب کی ملی جلی زبان میں سید صابر شاہ

صابر نے راقم الحروف کو دعوت دی۔ اس کے لئے اپنے ضروری کاموں کے باوجود ان کو ادھورا چھوڑ کر اس جلسے میں شرکت کے لئے اسلام آباد سے ہوا کے گھوڑے پر سوار آکر حاضری دینی پڑی۔ ذرا دیر سے پہنچنے پر مقررین سے دور بیٹھنے کی سزا پائی، اور بعض عمدہ مقرروں کی عالمانہ اور مفید باتیں سُننے سے محروم رہا۔ اس جلسے میں وزیر محمد گل مہمند کو بابائے پشتو بھی کہا گیا۔ اور اپنے دور کا خوشحال خان خٹک بھی۔ یہ دونوں باتیں خوشحال خان خٹک کا ایک ہم مرتبہ شخص سامنے لاتی ہیں۔ آخر وہ کیا بات تھی کہ محمد گل خان مہمند کو خوشحال خان خٹک کا ہم پلہ کر گردانا گیا ہے۔ دراصل مہمند نے نادر شاہ کے زمانے میں افغانستان میں بڑے کارنامے انجام دے چکے ہیں اور اس لئے ان کے دور میں وزیر داخلہ کے جلیل القدر عہدے پر فائز ہوئے اور انہیں "لمر" (آفتاب) کا عالی نشان بھی مرحمت ہوا۔ ان کی وفاداری کی وجہ سے نادر شاہ بادشاہ ان پر بہت اعتماد کرتے۔ انہوں نے انھیں بڑی بڑی پیشکشیں کیں لیکن محمد گل خان نے کوئی مراعات قبول نہ کیں۔ بلکہ ان سے پشتو زبان و ادب کی ترویج کا مطالبہ کیا۔ بادشاہ نے ان کا یہ مطالبہ فوراً تسلیم کرلیا۔ بس پھر کیا تھا، محمد گل خان زبان و ادب پشتو کی ترویج کیلئے کمر بستہ ہو گئے اور دیہات اور چھوٹے چھوٹے بانڈوں سے بڑے بڑے عالموں کو ڈھونڈ ڈھانڈ کر نکالا اور ایک پلیٹ فارم پر

جمع کیا۔ اور انہیں ھدایت کی کہ وہ پشتو زبان کی ترقی کیلئے کام شروع کریں۔ ان کی خواھش کے مطابق پشتو کتب اور رسائل مرتب ھونے شروع ھوئے۔ یوں کابل کی پشتو اکیڈیمی کا قیام بھی عمل میں آیا۔ انہوں نے اھل قلم سے خوب خوب کام لیا۔ ان ہی کی وجہ سے شمالی افغان علاقوں میں پشتو زبان و ادب کا بول بالا ہے۔

محمد گل خان مہمند نے خود بھی پانچ چھ کتابیں لکھیں، جن میں پشتو سیند (دریائے پشتو) پشتو نولی، پشتو اور لنڈئ پشتو قابل ذکر ھیں۔ انہوں نے شاعری بھی کی۔ وہ روسی اور ترکی زبانوں کے ماہر بھی تھے۔ اس تقریب کی صدارت افغانستان میں پشتو زبان کے نامور محقق جناب صدیق اللہ رشتین نے کی۔ مہمان خصوصی ڈاکٹر شیر زمان غمژن طائزئی تھے۔ جن حضرات نے اس سیمینار میں شرکت کی ان میں افغانستان کے ایک اور محقق اور صاحب الرائے اھلِ قلم حبیب اللہ رفیع، ھیش خلیل، سید صابر شاہ صابر، آصف صمیم، ڈاکٹر سہیل انشاء، قمر زمان قمر، بزرگ ادیب محمد دین ژواک گل ملا ھمکار، شہسوار سنگروال، شہریار قتاش خیل، غلام فاروق چشتی او شیر احمد خلیل بھی تھے۔ اس جلسے میں نامور دانشور سینیٹر غلام نبی چکنوری، مرحوم وزیر محمد گل خان مہمند کے چھوٹے بھائی جواب خود بہت ضعیف ہوگئے ھیں

یعنی عبد الکریم خان مہمند نے بھی شرکت کی۔

اس جلسے میں ایک بات کھل کر سامنے آئی کہ پشتون قوم کو اپنی زبان سے بے حد محبت ہے اور اس کا ثبوت حاضرین کی تعداد تھی۔ پریس کلب میں تل دھرنے کو جگہ نہ تھی۔ پھر سب سے بڑی بات افغان اہل قلم کی بھرپور شرکت بھی تھی۔ وہ بلا کسی تعصب یا تفرقہ کے اس پلیٹ فارم پر جمع ہوئے۔ اے کاش افغانستان میں امن و امان لانے کیلئے بھی وہ اسی طرح یکجہتی اتفاق اور اتحاد کا ثبوت دیں اور تربور بھائی بن کر بھائیوں کی دشمنی کے جذبے کو دل سے نکال دیں۔

(ورځپانه "مشرق" پېښور ۲۱ اکتوبر ۱۹۹۴ء)

ما ته ورځ د ننداري ده ورځ د جنګ
ورته درومم په اتڼ او په غورځنګ

(مومند بابا)

*

in tract form, by Pukhto Tolana Kabul against serial No 82, under the title of *Landakae Pukhto au Pukhtunwala*. This tract of 53 pages counts all the virtues of human life in relation to Pukhto and Pukhtunwala.

Muhammad Gul Khan Momand had not constricted his deep passions to lip-service or paper-service, but had played practical and active role in keeping up tempo of the movement for development and propagation of his mother tongue. In fact, his literary contributions have been eclipsed by his practical services.

[Note: Most of the information for this article has been taken from *Da Muhammad Gul Khan Momand and-o-zhwand ta yawa landa katena* compiled by Ismail Yun and published in 1994.] ***[courtesy : Daily The Frontier Post, Peshawar]***

No doubt, Muhammad Gul Khan Momand was a good writer and poet, but he could not make compatible impression in the field of literature. He paid more attention to purification of Pukhto. In his passionate efforts, he had tried to design graphs for certain phonemes. As a revivalist, he preferred to write in *nasta'liq* rather than *naskh*. His these efforts did not bear the fruit because of low literacy rate and wide communication gap. In fact, the popular script of the Holy Quran in this region is *naskh*. The calligraphers, mostly being ardent faithful, consider it an act of goodness to imitate the script of the Holy Book. Same is the case with the common reader. This is one, and probably the main, reason that the Pukhtun writer and reader, both, are not inclined to accept any other script, although Pir Rokhan and Khushal Khan Khattak had also used *nasta'liq*.

Muhammad Gul Khan Momand might have been ignored as a litterateur, but his practical works for development and propagation of Pukhto could not be ignored. Abdul Rauf Benawa considered him 'one of the distinguished figures of the present generation who have rendered remarkable services to Pukhto'. His services to Pukhto will make a resplendent part of the history of literature.

As mentioned earlier, Muhammad Gul Khan was an ardent advocate of purification of the language. That impulse moved him to compile a dictionary and a grammar. His dictionary was published by the education ministry under the title of *Da Pukhto sind* in 1316 AHS (1937/38 AD). This large-size book has 366 pages. The grammar, *Da Pukhto lyara*, was printed in Lahore under the supervision of Abdul Azim Safi. It has 495 pages plus a 14-page introductory note by the author. Once, Abdul Rauf Benawa published a complaint in *Kabul* magazine as regards the apathetic trend prevailing among the Pukhtun elders and leaders towards language and culture. In response, Muhammad Gul Khan wrote a long letter to him. That letter was published in 1327 AHS (1948/49 AD),

his talents and energy to development and propagation of Pukhto. Under his guidance, weekly *Tulu'-e-Afghan*, published in Pukhto and Dari, was changed into a Pukhto magazine in 1311 (1932 AD). Then its chief editor was Abdul Haye Habibi. It thus became the first Pukhto magazine which was published from Qandahar. When Muhammad Gul Khan saw that issue, he was so much delighted that he called Habibi to Kabul and recommended him for rewards. On his recommendation, he was granted 30 thousand Afghanis in cash and one acre of land near Qandahar.

Under the direction of King Nadir Shah, Muhammad Gul Khan Momand set up *Da Pukhto adabi anjuman* (Pukhto literary society) at Qandahar on Qaus 9, 1311 AHS (November 30, 1932 AD), which started publication of a Pukhto magazine in the name of *Pukhto*. Pukhto literary society Qandahar was later merged into the *Adabi anjuman* (literary society) Kabul and the *Pukhto* magazine into *Kabul*, published by the latter society in Pukhto and Dari. When the *Adabi anjuman* was transformed into *Pukhto Tolana* (Pukhto academy), the said magazine was also made mono-lingual (Pukhto).

For encouragement of Pukhto writers and poets, Muhammad Gul Khan used to arrange contests and awarded the best participants. In such a contest on "the grammatical analysis of certain words (I, we and who)", Qayamuddin Khadim received an Omega watch and Parker pen from him. Like many other Pukhtun leaders, scholars, intellectuals and philosophers, he also stressed perpetual care, development and propagation of the national language to enable its growth along the literary and scientific requirements. With this idea, he struggled incessantly, with the help of a few colleagues, for introduction of Pukhto in the offices. It was the effect of those struggles that the government of King Zahir Shah issued a firman (decree) in 1936 to recognise Pukhto as an official language, and an article was inserted in the constitution which provided for development and propagation of Pukhto.

Muhammad Gul Khan was appointed civil and military governor of Paktia in 1303 AHS (1924 AD), chairman of the inspection team at Mazar Sharif in 1306 AHS (1927 AD) and then civil and military governor of Ningrahar. When Amanullah Khan abdicated the throne and Habibullah Khan alias Bacha Saqa reigned Kabul with terror, Muhammad Gul Khan receded to home for some time. Then he joined the mainstream of the revolt for liberation of Kabul from the clutches of the band of Bacha Saqa . This uprising paved way for Nadir Khan to take over Kabul and assume kingship as Nadir Shah.

Nadir Shah inducted Muhammad Gul Khan in his first cabinet as interior minister, and civil and military governor of Ningrahar. After that he held in succession the posts of civil and military governor of Parwan and Kapisa, Kandahar and Farah in 1309 AHS (1930 AD), Qataghan, Mazar-e-Sharif, Badakhshan and Maimana in 1312 AHS (1933 AD). He was awarded the medal of `Lmar A'lee' (Sun-I) for his meritorious administration. In that era, Afghanistan was divided into five administrative units, called northern, southern, eastern, western and central parts. In 1319 AHS (1940 AD), Muhammad Gul Khan was appointed as the minister of state. He also discharged the duty of deputy chairman of the Loya Jarga convened in 1955.

Muhammad Gul Khan Momand died at the age of 80, on Asad 27, 1343 AHS (August 18, 1964 AD), at Barikot, Kabul, and laid to rest in the graveyard of Shuhadae Swaleheen. The funeral was attended by a large number of people including high ranking officials, and Bacha Khan who had come from London at the invitation of the Afghan government to live in Kabul. Momand had left one daughter who is married to Sher Ahmad of Lalpura. On of his nephews Muhammad Patang took care of his literary works.

This soldier in the person of Muhammad Gul Khan Momand was a good writer of Pukhto and Dari, and knew Turkish and Russian also. But he dedicated all

sovereignty under King Amanullah Khan. Then he played equally important role in the uprising against the tyrannical rule of Habibullah Khan alias Bacha Saqao.

Beside his political struggle, Muhammad Gul Khan Momand was working all the time for awareness of the Pukhtuns. It was his idea that Afghanistan is a Pukhtun state, and wished it regain its past glory and becomes, once again, `great Paktiana'. He was a revivalist of the old glorious traditions and, at the same time, a modernist to innovate the Pukhto script and enable it to go along the advanced languages in all the fields of art and science.

Muhammad Gul Khan opened his eyes on the 13th of Ramazan, 1303 AHQ, in the house of Ghund Mashar (Brigadier) Muhammad Khurshid (son of Momin Khan son of Abdul Karim), Baezay Momand, living then in the Andrabi street of Kabul city. He received basic education at home in traditional way and then joined the military school in 1327 AHQ where he qualified the five-year courses of study and training and was then inducted in the Royal Guards as commander of a battery. He was imparting instructions to the units of the Royal Guards, while holding the post of the principal of the military school also. Then he was appointed a deputy to commander-in-chief Saleh Muhammad Khan and commander of the Royal Guards.

In 1298 AHS (1919 AD), Muhammad Gul Khan was included in the delegation, headed by Muhammad Wali Badakhshani, assigned to visit Europe and America for introduction of the sovereignty of Afghanistan (under King Amanullah Khan). Other members of the delegation were Maulana Saifur Rahman Alkozai, Faiz Muhammad Zikria, Muhammad Aslam Mir-shikar, Bashir Ahmad Khan, Abdul Hamid Khan, Azizur Rahman Fathi, Muhammad Adeeb Effendi, Abdul Ghani Tarjuman (interpreter) and Ghulam Jeelani.

# Muhammad Gul Khan Momand: a practical man

**Dr Sher Zaman Taizi**

Influence of one language on another language affects the entire life of those people who speak the latter. If the language of a minority sways influence over the language of the majority, that minority would get most of the benefits in every sphere of life; ie politics, economy, education, social contact, morality, customs, traditions etc. And that minority would live better than that majority which speak the plagued language.

This view was expressed in an article on the `importance of the language' by Muhammad Gul Khan Momand. It was not that one article in which he had underscored this problem, he had devoted, in fact, all his talents and energy to this cause not only in writing but in practice as well.

Muhammad Gul Khan Momand was one of the brilliant literary figures of this era. Like Pir Rokhan, Khushal Khan Khattak and Ahmad Shah Abdali, he was also a man of letters and sword. Like his contemporary Bacha Khan, he was all the time worried about the awakening and awareness of the Pukhtun. His austerity, honesty, generosity and hospitality were proverbial. In spite of having held authoritative and lucrative posts for a long time, in a totalitarian state, he had not built even a house for his own living.

Born in the home of a soldier, Muhammad Gul Khan also lived a soldier - upright patriot and nationalist. He had taken memorable part in the war of independence against the colonial power of the British empire, which led Afghanistan to achievement of

همیش خلیل

*

# دادب د شیرینۍ یې مومن خان وه

☼

چې د ژبې د عظمت د راز رازدان وهٔ
د مومند و حسن خېل محمد ګل خان وهٔ

په پښتو باندې ئې ګرځند وهٔ چې پښتون وهٔ
پر مخ تګ ئې د پښتو په زړهٔ ارمان وهٔ

او پښتون ئې د زړهٔ سر د سترګو تور وهٔ
نه غلط شوم، هم ئې جان هم ئې جانان وهٔ

مال ئې څهٔ وهٔ د پښتو سره په پټ کښې
سر ئې هم په وخت د ننګ ورته قربان وهٔ

kitaboona.blogspot.com

په پښتو او په پښتون ئې مرحمت کړې
پېرزوئېنې د هر قسمه چې ئې توان وه

د خپل وخت د مملکت په وُسعتونو
د پښتو او پښتنو دار الامان وه

د ګفتار هم د کردار هغه غازي وه
چې هر ارخ ئې د ژوندون عظیم الشان وه

مېړنی وه، مېړنتوب باندې مین وه
د میرویس" او احمد شاه" ثنا خوان وه

د ایمل" د مقاصدو په طلب کښې
د منزل په لور اُفتاد کله خېزان وه

په خوږه ژبه خوږې خوږې خبرې
پښتنو ته کله تاک کله رُمان وه

يو عظمت وهٔ، حميّت وهٔ، شرافت وهٔ
په جامه دَ انسان داسې يو انسان وهٔ

مرحمت وهٔ، فضيلت وهٔ، مَزِيّت وهٔ
"مروّت وهٔ، غور رسي، عدل واحسان وهٔ

هم امين دَ پردې حق هم نګهبان وهٔ
يوسف طوره زليخې نه ګريزان وهٔ

عاليشانه وهٔ، ذيشانه وهٔ بې شانه
داسې شان وهٔ چې هرشان کښې ئې لوې شان وهٔ

چې ئې ورکړې دَ زړهٔ وينې حقه داچې
دَ ادب دَ شيرينۍ ئې مومن خان وهٔ

"پښتو دَ پښتنو دَ ټولنې روح دے"
(مومند بابا)

قمرالزمان قمر نهیوال

# دَ مِلّت حکیم

چې پهٔ نوم دَ محمد گل مومند یادېږي
دَ پښتون ملت دَ رنځ حاذق حکیم وهٔ

دَ سپېرلي او لهٔ خزانه بې پرواه وهٔ
لکه وَنه مُستقیم دَ خپل اقلیم وهٔ

هر غاصب سره پهٔ جنګ وهٔ پهٔ غورځنګ وهٔ
خو دَ هر دیار غریب وته تسلیم وهٔ

دَ پښتو او پښتونخوا پهٔ مصیبت کښې
دَ دې دواړو هره سخته کښې ندیم وهٔ

دَ ادب پهٔ ګلستان ئې بادشاهي کړه
رسېدلے پهٔ هر ځائے لکه شمیم وهٔ

دَ وطن په کوهِ طور به کله کله
په آرزو دَ یو وصال لکه کلیم وهٔ

دَ سپین غر غوندې صادق او په زړهٔ سپین وهٔ
په خپل قول په خپل فعل مُستقیم وهٔ

یو زهٔ نهٔ وایم ټول خلق یوه خولهٔ دي
چې وزیر محمد گل خان مومند عظیم وهٔ

دَ قمر مستي بې ځایه نهٔ ده خلقو!
چې اتل ئې دَ پښتون سپړلي شمیم وهٔ

"پښتو دَ اسلام، پښتو او پښتنو دَ ښتنهٔ والي
دَ پاره ځان نشت کول دي"

(مومند بابا)

غلام حیدر حیدر

*

# دَ عقیدت ګلونه

پښتنو سره یې قدر پیدا نهٔ شو
ګنې ښکلې خلق شته په پښتنو کښې

دغه هم دَ اتلانو برکت دے
دا چې نن موږ ه یادېږو په سړو کښې

چا چې ډېرو خزانو ته زړهٔ ښهٔ نکړو
چا چې ورته کړو ټیلے عیش و عشرت ته

دَ یوې پښتو نه یې هرڅهٔ صدقه کړهٔ
په یو زړه ځله سلام دَ دهٔ عظمت ته

کهٔ دَ لرې کهٔ دَ برې پښتونخوا یې
تهٔ وزیر محمد ګل خانه دَ هرچا یې

تا چې حق دَ پښتو وکاتهٔ پښتون ته
له دې وجهې نه دَ هر پښتون بابا یې

*

خدایه! بیا یو محمد ګل مومند پیدا کړې
پښتنو کښې یو بل ارجمند پیدا کړې

چې حالات ئې نن لګیادي تقاضې کړې
دَ هغهٔ غوندې یو دانشمند پیدا کړې

*

" پښتو دَ پښتنو تفکرات، تخیلات، ذوق
او هرڅهٔ سره یو شانته اویوکوي "

*

"پښتو خورا خوږه وروروولي ده "

(مومند بابا)

*

شهریار قتاش خیل

*

# مسیحا د خپلې ژبې

حقه دا ده چې ریښتونې یو انسان وه
او له اصله د پښتون د دودمان وه

چې پښتو، پښتونولي ئې وظیفه وه
د دې دور احمد شاه وه خوشحال خان وه

مسیحا د خپلې ژبې او ملت وه
د وطن د شیرینۍ ئې صباحت وه

د ادب په قلمرو کښې د خبرو
یو مثال د فصاحت او بلاغت وه

دَ پښتو او پښتونخوا حسن و جمال وهٔ
دَ غلیم د پاره قهر وهٔ جلال وهٔ

خلقه! څهٔ نهٔ وهٔ؟ هر څهٔ وهٔ پخپل ذات کښې
دَ ادب دَ دُرخانې په زنه خال وهٔ

خپل پردي ورباندي واړه عاشقان وو
په هر حکم دَ مؤمند بابا قربان وو

شپه او ورځ دَ دهٔ دَ حُکم مُنتظر وو
پښتانهٔ وو، کهٔ ازبک کهٔ تاجکان وو

"دَ ژوند خوند په پښتو اخستل کیږی."
"پښتو کښې هغه ریښتني دیموکراسي ده چې
چل ول، افراط او تفریط پکښې نشته."
(مؤمند "بابا")

سناتور غلام نبي چکنوري

# دَ محمد ګل بابا قبر ته

خره ډېره دَ خاورو مهٔ بولۍ ښهٔ ځېر شئ ورته
يو دروند پښتون سپين ږيرے دلته ايماندار راغلے

پښتو ويئل، پښتو کول، پښتو ساتل ئې منل
دَ پښتونوالي او پښتو دلته کښې پلار راغلے

ډېر زحمتونه ئې ګاللي وو پښتو دپاره
يو دردېدلے، رنځېدلے په دې لار راغلے

منم! منلي ئې خبرې دَ منلوچې وې
چې دَ خبرو او ملت دلته سالار راغلے

دَ ظالمانو زور ئې نهٔ مانهٔ او مرګ ئې مانهٔ
ګوره دَ مرګ نن په منلي باندې وار راغلے

ئيم "چکنور" نه دَ بابا دَ سالګرې دپاره
په يوه منډه ساه نيولے په تلوار راغلے

الحاج محمد هاشم غم شریک

# دَ پښتو پلاره!

دَ پښتو، پښتونولۍ علمبرداره!
دَ تاریخ دَ پاڼو باب او افتخاره!

دَ غیرت دَ کارنامو نه دي لوګے شم
دَ پښتون وُلس غمخوره فداکاره

دَ پښتو دَ بڼ بلبل هزار داستان وې
چې پښتون وي نو درځي به ستاینه لاره

دَ ادب دَ پګړۍ ګل وې بې له شکه
دَ ننګونو او ویاړونو خریداره!

تا چې کړي خدمتونه دي پښتو ته
هېرولے هغه څوک نه شي نامداره

چې تیاره دَ ژوند روښانه دَ پښتون شي
لکه شمع بلېدلې تر سحاره!

لکه لمر هسې څرګند شوې په وطن کښې
ننګرهار نه قندهار او تر مزاره

دَ پوهانو په ټولګي کښې مخکښې تللي
دَ ژوند راز باندې خبرې ښهٔ هوښياره

تا ګټلي ستر ویاړونه دَ تاریخ دي
دَ وطن دَ خلکو غم کښې ناقراره!

ستا په یاد درنه ټولنه جوړه شوې
تاریخي افتخار پاتې ستا له کاره

ارمان دا چې پوره نهٔ شولو ارمان ستا
پښتو ژبه لاهماغسې ده خواره

بدو سترګو دَ دښمن ته ستا غزوې
کړهٔ او وړهٔ دې وو بې شکه مزه داره

آب و تاب دې دَ پښتو دنیا ته ورکړ
دَ بابا لقب دې وګټهٔ سالاره!

ستا وطن کښې نن دَ غم اورونه بل دي
پکښې لوې واړهٔ سوزېږي بې شماره

دَ پښتو دَ بڼ ګلونه مړاوي ښکاري
دَ ادب ډیوې دي تتې، زما یاره

اوس څو پروت ښایسته کابل دَ لوټي اوټي
ژاړي ژاړي دَ جنګونو له ناتاره

لمبونو په زور دي کلي شروع کړي
نهٔ ویریږي له آهونو له آزاره

په هستۍ ئې دَ وطن تیلي کړهٔ پوري
نهٔ تېرېږي ذره هم له اقتداره

پروت په وینو کښې لت پت وطن مې ژاړم
یم راغلے له کونړ او ننګرهاره

عقیدت کېږدي ګلونه مې راوړي
محمد ګل مومند بابا دَ پښتو پلاره!

پوهنیار عزیزالله حصاري

# دَ وزیر محمد ګل خان

## دَ سیمینار په اړوند

وهلي واټونه ادیبانو واړه په واړه دي
راغلي کاروانونه لوی واړهٔ په دغې لاړه دي

شمله چې دَ ادب وه لړ وبره پښتونخوا کښې
رښتیني پښهٔ ستوري ګواهان دَ لوی سردار دي

اُلفت او بېنوا، خادم، رښتین که حبیبي وهٔ
په ویاړ دَ محمد ګل وزیر نومیاله په دیار دي

په سینه کښې دَ پښتو ئې وې داایلې لنډې شوبلې
په توره او خامه کښې ساري کله دَ بې سار دي

دننه په اسلام کښې دَ پښتو ډیوې ته ناست وهٔ
دَ ننګ په کتابتون کښې ئې راپاتې لوړ افکار دي

ښائیست په ګلستان ئې دَ اُلفت ګلان غوړېږي
فرهنګ په کروندو ئې هم نیالګي ډېر میوه دار دي

تازه ساته یادونه حصاري دَ تللو زړهٔ کښې
راغلي په دې نیت واړه پوهان دَ سیمینار دي

❀❀❀

# یادګیرنه

دَ وزیر محمّد ګل خان مومند حسن خېل
په یاد کښې کوم ادبي تقریب چې دَ "خلیل اولسي
ادبي جرګه" پېښور په اهتمام پرېس کلب پېښور
کښې دَ کال ۱۹۹۴ء دَ ستمبر دَ میاشتې په دېرشمه
نېټه (جمعې په ورځ) دَ صدیق الله خان رشتین
په صدارت او تقریب دَ مشر مېلمه ډاکټر شېر زمان
طائزي په موجودګۍ نمانځلے شوے وۀ۔
دا ټولې مقالې او نظمونه وغیره په دغه موقع
اَورولې شوي وو۔

مرتب

*

kitaboona.blogspot.com

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

http://kitaboona.blogspot.com/

https://www.facebook.com/1563796700518091

http://twitter.com/Kitaboona

# یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور

## دَ اِشاعت شُعبه

مُعیاري کتابونه لیکل که یو لوی ادبي خِدمت دے، نو دغه نه هم یو لوی او اهم خِدمت دَ مُعیاري کتابونو په ډېل ډول شائع کول دي۔

یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور دَ یوې مودې راسې داسې کتابونه لګیا ده شائع کوي چې نه صرف کړه وړه ئې حسین وي بلکې دَ مواد او موضوع له مخه هم مفید او دلنشین وي۔

همیش خلیل